په دنيا او آخرت کې د ژغورنې لارې

ليکوال: عبد الهادي بن حسن وهبي

ژباړه: محمد بشير مدني

د کتاب شمیره
66




په دنيا او آخرت کې د ژغورنې لارې

ليکوال: عبد الهادي بن حسن وهبي

ژباړه : محمد بشير مدني

1448هـ ق


بسم الله الرحمن الرحيم

دوهمه رساله 1
په دنيا او آخرت کې د ژغورنې لارې 1
دژبا ړونکي سريزه 4
دليکوال سريزه 6
لومړی: د توحيد ټينګول او په سمه توګه عملي کول 8
دويم: د مسلمانانو له جماعت سره يوځای پاتې کېدل : 12
دريم: ايمان : 18
-څلورم: تقوا : 20
-پنځم: استغفار : 22
-شپږم: د غوسې کابو کول : 24
١-. له شيطان څخه الله تعالى ته پناه غوښتل : 26
٢-. چوپ پاتې کېدل : 26
٣-. رسول الله ﷺ د هغه چا ستاينه کړې چې خپل ځان کنټرولوي او خپله غوسه زغمي : .. 27
-اووم: د الله تعالى ذکر : 28
اتم: اخلاص : 31
-نهم: صدقه : 32
-لسم: رښتينولي : 34
-يوولسم: له الله څخه وېره، منځلاريتوب او عدالت : 37
-عدالت په غوسه او خوښۍ کې : 39

-په ببوزلۍ او شتمنۍ کې منځلاريتوب :.....39
دولسم: د پنځو وخته لمونځونو ساتنه :.....40
دیارلسم: د ژبې ساتنه، په کور پاتې کېدل او پر ګناه ژړل :.....42
-پر خپلو تېرو ګناهونو ژړل :.....45
-څوارلسم: له دنيا څخه زهد او بې‌رغبتي :.....45
-د الله په نزد د دنيا ارزښت :.....48
-لومړۍ نښه:.....51
-دوهمه نښه:.....51
-پنځلسم: روژه :.....52
دليکوال خاتمه.....53
دژباړونکي پايله.....55
منابعو فهرست.....57

دژبا ړونکي سريزه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيدنا محمد وعلى آله وأصحابه أجمعين.

-انسان د دې نړۍ په ژوند کې د ښلابښلو ازمويښو، ستونزو، خواهشاتو او فتنو سره مخامخ دی. الله تعالی انسان ته عقل، اراده او د حق او باطل د پېژندلو توان ورکړی دی، او د هدايت لپاره يې د خپلو پيغمبرانو په وسيله روښانه لارښوونې رالېږلې دي. د انسان د دنيا ژوند که هر څومره اوږد هم وي، آخر يې مرګ دی او له هغه وروسته د آخرت تلپاتې ژوند پيلېږي. له همدې امله هوښيار انسان هغه دی چې د خپل لنډ دنياوي ژوند ترڅنګ د خپل ابدي ژوند لپاره هم تياری ونيسي.

-د انسان اصلي بريا يوازې په مال، شتمنۍ، مقام، شهرت او دنياوي اسانتياوو کې نه ده، بلکې حقيقي بريا هغه ده چې انسان د خپل رب رضا ترلاسه کړي، په دنيا کې د ايمان او اطاعت ژوند ولري او په آخرت کې د الله تعالی له رحمت او ښېنې څخه برخمن شي. همدارنګه حقيقي تاوان يوازې د دنيا په مال او مقام کې کمښت نه دی، بلکې تر ټولو ستر تاوان دا دی چې انسان د خپل رب له اطاعت څخه لرې شي او د آخرت لپاره بېتوښې پاتې شي.

-د همدې مهم حقيقت د روښانولو لپاره دا موضوع «په دنيا او آخرت کې د ژغورنې لارې» تر عنوان لاندې وړاندې کېږي. په دې ليکنه کې هڅه شوې چې هغه مهمې لارې او وسيلې بيان شي چې مسلمان د الله تعالی رضا، د زړه د سکون، د ګناهونو څخه د ژغورنې او د آخرت د نېکمرغۍ پر لور بيايي.

-د ژغورنې لومړنی او اساسي بنسټ توحيد دی. انسان بايد خپل رب وپېژني، يوازې د هغه عبادت وکړي او د هغه په وړاندې خپله بندګي په سمه توګه ترسره کړي. له توحيد وروسته ايمان، تقوا، اخلاص او د الله تعالی ذکر هغه معنوي بنسټونه دي چې د انسان زړه پياوړی کوي او د ژوند په ستونزو کې يې ثابت قدمه ساتي.

-له بلې خوا، اسلام يوازې د زړه د اصلاح دين نه دی، بلکې د انسان د عمل او اخلاقو د اصلاح لار هم ده. له همدې امله د غوسې کنټرول، د ژبې ساتنه، رښتينولي، عدالت، له ببوزلو سره مرسته، صدقه، د پنځه وخته لمونځونو ساتنه، روژه او له ګناهونو څخه توبه د انسان په عملي ژوند کې ځانګړی اهميت لري.

-انسان کله ناکله د دنيا په ښکلا او نعمتونو کې دومره ډوب شي چې د آخرت له ژوند څخه غافل شي. له همدې امله زهد او د دنيا د حقيقت پېژندل هم د انسان د اصلاح يوه مهمه برخه ده. موخه دا نه ده چې انسان له حلالو دنياوي نعمتونو څخه بې برخې شي، بلکې موخه دا ده چې دنيا د انسان د زړه تر ټولو لوی هدف ونه ګرځي او د آخرت د ژوند ياد يې هېر نه کړي.

په دې موضوع کې به د ژغورنې بېلابېلې لارې په ترتيب سره وڅېړل شي، څو لوستونکی وکولای شي د خپل ايمان، عبادت، اخلاقو او ورځنۍ ژوند د اصلاح لپاره ترې ګټه واخلي. د دې موضوع اساسي هدف يوازې د معلوماتو وړاندې کول نه دي، بلکې دا دی چې انسان د خپل ځان محاسبې ته متوجه شي، خپلې نيمګړتياوې وپېژني، له ګناهونو څخه توبه وکړي او د الله تعالی د رضا لپاره په خپل ژوند کې عملي بدلون راولي.

الله تعالی دې موږ ټولو ته د حق د پېژندلو، د هغه د منلو، په نېکو اعمالو کې د توفيق او پر سمه لار د ثابت پاتې کېدو توفيق راکړي، څو زمونږ دنيا په ايمان او نېک عمل ښکلې او زمونږ آخرت د الله تعالی په رحمت او رضا آباد شي.

آمين يا رب العالمين.

محمد بشير مدني

دليکوال سريزه

إِنَّ الحَمدُ للهِ نَحمَدُهُ وَنَستَعِينُهُ وَنَستَغفِرُهُ، وَنَعُوذُ باللهِ مِن شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِن سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضلِل فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

-ستاينه يوازې د الله تعالى لپاره ده؛ موږ د هغه ستاينه کوو، له هغه څخه مرسته او بښنه غواړو، او د خپلو نفسونو له شرونو او د خپلو اعمالو له بديو څخه دالله تعالى څخه پناه غواړو. چا ته چې الله تعالى هدايت وکړي، هېڅوک يې ګمراه کوونکى نشته، او څوک چې الله تعالى ګمراه کړي، هېڅوک يې هدايت کوونکى نشته. زه شاهدي ورکوم چې له الله تعالى پرته بل هېڅ د عبادت وړ معبود نشته، هغه يوازې دى او هېڅ شريک نه لري؛ او شاهدي ورکوم چې محمد ﷺ د هغه بنده او رسول دى.

-بېشکه تر ټولو غوره وينا د الله تعالى وينا ده، او تر ټولو غوره لارښوونه د محمد ﷺ لارښوونه ده. تر ټولو بد کارونه هغه دي چې په دين کې نوي رامنځته شوي وي، او هر نوى رامنځته شوى شى بدعت دى، هر بدعت ګمراهي ده، او هره ګمراهي دوزخ ته د تلو سبب ده.

اما بعد:

-هر انسان غواړي چې په دنيا او آخرت کې له عذاب څخه وژغورل شي.

-خو په ډېرې خواشينې سره، په ننۍ زمانه کې د ډېرو خلکو په اند نجات دا دى چې خپله دنده وساتي، پيسې او مال ترلاسه کړي.

-د ډېرو خلکو په فکر نجات دا دى چې د مسؤلينو رضايت ترلاسه کړي.

-د عامو خلکو په اند نجات دا دى چې د ملامت کوونکو له ملامتۍ او د غوسه کوونکو له غوسې څخه ځان وژغوري.

-او د اکثرو خلکو په اند نجات دا دى چې په هره ممکنه وسيله په دنيا کې هوسا او ښه ژوند ترلاسه کړي.

-همدا اوس زمونږ په ټولنو کې د دروغو، دوکې او منافقت د خپرېدو له امله زوال او ړنګېدل مخ پر زياتېدو دي؛ او لامل يې د نجات د معنا په اړه زمونږ ناسم درک دی.

-زمونږ په نزد د نجات مفهوم په هلاکت بدل شوی، او د هلاکت مفهوم په نجات!

-نو بايد زمونږ په ذهن کې د نجات معنا دا وي چې له دوزخ څخه لرې کړل شو او جنت ته داخل کړل شو.

قَالَ تَعَالَى : ﴿فَمَن زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ﴾ [1]

ژباړه : الله تعالى فرمايي: «نو څوک چې له اور څخه لرې کړل شو او جنت ته داخل کړل شو، په حقيقت کې هماغه بريالی شو.

والله دَرُ القَائِل :

لَيسَ السَّعِيدُ الَّذِي دُنْيَاهُ تُسْعِدُهُ

إنَّ السَّعِيدَ الَّذِي يَنْجُو مِنَ النَّارِ

شاعر دېر ښه ويلي دي:

-خوشبخته هغه څوک نه دی چې يوازې دنيا يې خوشحاله کړي؛ بلکې رښتينی نېکمرغه هغه ده چې له دوزخ څخه وژغورل شي.»

-نو هغه کومې لارې او ځانګړنې دي چې انسان په دنيا او آخرت کې له عذاب څخه ژغوري؟

-اوس د همدې ځانګړنو په اړه په خبرو وخت دی. نو په غور يې واوره، خپل زړه ورته حاضر کړه، او له هغو کسانو څخه شه چې خبره په غور اوري او بيا يې د تر ټولو غوره برخې څخه پيروي کوي.

د خپل رب د بښنې هيله‌من،

عبد الهادي بن حسن وهبي

[1] - آل عمران : ١٨٥ .

لومړی: د توحید ټینګول او په سمه توګه عملي کول

-عَنْ مُعَاذٍ قَالَ: كُنْتُ رِدْفَ النَّبِيِّ ﷺ عَلَى حِمَارٍ يُقَالُ لَهُ: عُفَيْرٌ، فَقَالَ :

يَا مُعَاذُ هَلْ تَدْرِي ما حَقُّ اللهِ عَلَى عِبَادِهِ، وَمَا حَقُّ العِبَادِ عَلَى اللهِ؟» قُلْتُ : الله وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: «فَإِنَّ حَقَّ اللَّهِ عَلَى العِبَادِ : أَنْ يَعْبُدُوهُ وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا، وَحَقُّ العِبَادِ عَلَى اللهِ : أَنْ لا يُعَذِّبَ مَنْ لا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا» .[2]

- له معاذ رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي: زه له رسول الله ﷺ سره پر یوه خره سپور وم چې «عُفَیر» نومېده. رسول الله ﷺ راته وفرمایل: «اې معاذه! ایا ته پوهېږې چې د الله تعالی حق پر خپلو بندګانو څه دی، او د بندګانو حق پر الله تعالی څه دی؟»

-ما وویل: الله او د هغه رسول ښه پوهېږي.

-رسول الله ﷺ وفرمایل: «پر بندګانو د الله تعالی حق دا دی چې یوازې د هغه عبادت وکړي او هېڅ شی ورسره شریک نه کړي؛ او د بندګانو پر الله تعالی حق دا دی چې هغه څوک عذاب نه کړي چې له هغه سره یې هېڅ شی شریک کړی نه وي .

-د رسول الله ﷺ دا وینا: «حَقُّ اللهِ عَلَى العِبَادِ أَنْ يَعْبُدُوهُ وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا» د الله تعالی هغه حق بیانوي چې له لومړي انسان څخه تر وروستي انسان پورې پر ټولو بندګانو لازم دی.

الله تعالی فرمایي: ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا ليعبدون﴾[3]

ژباړه: ما پېریان او انسانان یوازې د دې لپاره پیدا کړي چې زما عبادت وکړي.

-یوازې دا بسنه نه کوي چې انسان د الله تعالی عبادت وکړي؛ بلکې اړینه ده چې له الله تعالی سره هېڅ شی شریک هم نه کړي. ځکه عبادت هغه وخت رښتینی عبادت ګڼل کېږي چې له شرک څخه پاک وي.

-که عبادت له شرک سره ګډ شي، نو بیا هغه د الله تعالی عبادت نه پاتې کېږي. الله تعالی فرمایي:

---

[2] - أخرجه البخاري (٢٨٥٦)، ومسلم (٣٠

[3] - الذاريات:

﴿فَمَن كَانَ يَرْجُوا لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا﴾ [4]

ژباړه: نو څوک چې د خپل رب د ملاقات هيله لري، بايد نېک عمل وکړي او د خپل رب په عبادت کې هېڅوک شريک نه کړي.

-ځکه شرک عبادت له منځه وړي او د انسان نور اعمال هم باطلوي، او له شرک سره هېڅ عمل صحيح نه پاتې کېږي. الله تعالى فرمايي: ﴿وَلَوْ أَشْرَكُوا لَحَبِطَ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾ [5]ا

ژباړه: او که هغوی شرک کړی واى، نو هر هغه عمل چې دوی به کاوه، ټول به يې له منځه تللى واى.

د رسول الله ﷺ دا وينا: «أَنْ يَعْبُدُوهُ»؛ يعنې دا چې بندګان بايد يوازې د الله تعالى عبادت وکړي.

عبادت هم، لکه څنګه چې له توحيد پرته صحيح نه دى، همدارنګه هغه وخت هم صحيح نه وي چې د رسول الله ﷺ له هغه طريقې سره برابر نه وي چې هغه يې مورِ ته ښوولې ده.

نو عبادت او ټول نور اعمال د دوو شرطونو له پوره کېدو پرته نه صحيح کېږي:

لومړى شرط: د الله عزوجل لپاره اخلاص.

دوهم شرط: د رسول الله ﷺ پيروي.

د رسول الله ﷺ دا وينا: «وَحَقُّ العِبَادِ عَلَى اللهِ أَنْ لا يُعَذِّبَ مَنْ لا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا»؛ مطلب يې دا دى چې هغه څوک چې له الله تعالى سره هېڅ شى شريک نه کړي، الله تعالى به يې عذاب نه کړي.

البته د بندګانو دا حق پر الله تعالى داسې واجب حق نه دى چې ګواکې چا پر الله تعالى لازم کړى وي؛ بلکې دا د الله تعالى له فضل او احسان څخه دى. ځکه پر الله تعالى د هېچا داسې

[4] - الكهف: ١١٠ آيت

[5] - الأنعام:

حق نشته چې بل څوک يې پرې واجب کړي، او هېڅوک نه شي کولای پر الله تعالی کوم شی لازم کړي.

بلکې دا هغه فضل او احسان دی چې الله تعالی په خپل کرم سره پر خپل ځان لازم کړی دی. الله تعالی فرمايي: ﴿وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ﴾ [6]

ژباړه: او پر موږ د مؤمنانو مرسته کول لازم دي.

-دا د الله تعالی له لوري يو فضل او احسان دی.

شاعر دا معنا په دې شعر کې ډېره ښه بيان کړې ده:

فَبِفَضلِهِ وَهُوَ الكَرِيمُ الوَاسِعُ مَا لِلعِبَادِ عَلَيهِ حَقٌّ وَاجِبٌ

كَلَّا وَلا سَعْيٌ لَدَيهِ ضَائِعُ عُذِّبُوا فَبِعَدلِهِ أَوْ نُعِّمُوا [7]

ژباړه: -دا هر څه د هغه د فضل له امله دي، ځکه هغه ډېر کريم او پراخ فضل لرونکی دی.

-پر بندګانو د هغه داسې کوم واجب حق نشته؛

-او د هغه په نزد د هېڅ بنده هڅه نه ضايع کېږي.

-که هغوی عذاب شي، د هغه د عدل له مخې دي، او که نعمت ورکړل شي، د هغه د فضل له امله دي.

-نو د «حَقُّ العِبَادِ عَلَى اللهِ» معنا دا ده چې الله تعالی په خپل فضل سره پر خپل ځان يو حق لازم کړی دی، پرته له دې چې د مخلوقاتو څخه چا پرې دا حق لازم کړی وي. بلکې الله تعالی خپله پر خپل ځان لازم کړی، او دا د هغه د کريمې وعدې له مخې ده؛ ځکه هغه هېڅکله خپله وعده نه ماتوي.

الله تعالی فرمايي: ﴿وَعْدَ اللَّهِ لَا يُخْلِفُ اللَّهُ وَعْدَهُ﴾ [8]

ژباړه: دا د الله تعالی وعده ده، او الله تعالی خپله وعده نه ماتوي.

---

[6] - الروم:

[7]-)شرح الطحاوية(٢/١/٢٩٥-٢٩٦

[8] - الروم:

-د رسول الله ﷺ د دې وينا: «أَنْ لا يُعَذِّبَ مَنْ لا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا» مطلب دا دی چې څوک په توحید باندې مړ شي، د هغه لپاره جنت ته داخلېدل يقيني دي.[9]

-خو که يو څوک د کبيره ګناه مرتکب وي او پر هماغه ګناه ټينګ پاتې شي او مړ شي، نو هغه د الله تعالی د مشيت لاندې دی؛ که الله تعالی يې وبخښي، له اوله به جنت ته داخل شي، او که يې ونه بښي، نو په دوزخ کې به عذاب شي، بيا به له دوزخه راوايستل شي او جنت ته به داخل کړل شي.

-خو څوک چې پر لوی شرک مړ شي، جنت ته به داخل نه شي، د الله تعالی له رحمت څخه به برخمن نه شي او په دوزخ کې به تل پاتې وي.[10]

-او که د يو چا شرک کوچنی وي، او د هغه نېکۍ پرې درنې نه وي، دوزخ ته به داخل شي؛ خو په دوزخ کې به تل پاتې نه وي.

- دا رښتيا هم ډېره ستره نېکمرغي او لوی نعمت دی چې انسان خالص توحيد حاصل کړي او له الله تعالی سره هېڅوک شريک ونه نيسي .

-شرک ډېر خطرناک او جدي کار دی؛ هېڅکله بايد سپک او اسانه ونه ګڼل شي.

-او له شرک څخه يوازې هغه څوک ژغورل کېږي چې الله تعالی ورته د صبر او استقامت توفيق ورکړي.اوبيرته خالص توحيد ته رجوع وکړي .[11]

- د الله تعالی په مرسته او تأييد، د غوره عمل او سمې وينا خاوند شي، او توحيد يې د زړه تل ته ورننوځي .[12]

-نو څوک چې له خپل ځان سره خيرخواهي کوي، د خپل ځان نېکمرغي او نجات غواړي، لازمه ده چې دې مسئلې ته ډېر متوجه شي، دا د خپل ژوند تر ټولو مهمه موضوع وګرځوي، او دا د خپلو علومو او اعمالو تر ټولو ستره برخه وبولي؛ ځکه ټول کار په همدې پورې تړلی دی، ټول مدار پر همدې دی، او د قيامت په ورځ به هم د همدې په اړه پوښتنه کېږي.

---

[9]-إعانة المستفيد بشرح كتاب التوحيد (١/ ٤٤-٤٧)

[10] - الملخص في شرح كتاب التوحيد (ص٤٩ - ٥٠)، للعلامة صالح الفوزان حفظه الله

[11] - القول المفيد على كتاب التوحيد (١١٩

[12]-٢)الدرر السنية (٢/ ٣٢٣)

-د داسې ستر اهميت لرونکې موضوع په اړه لازمه ده چې انسان پرې تينګې منګولې ولګوي، او دا خپله تر ټولو ستره موخه وګرځوي، او له الله تعالى څخه وغواړي چې مونږ ته د دې حقيقت د بشپړ تحقق توفيق راکړي؛ داسې چې هم يې په علم، هم په عمل او هم په زړه او حالت کې حقيقت راژوندی کړو.

-او له الله تعالى څخه پناه غواړو چې زمونږ برخه ترې يوازې د هغه خبرې کول او بيانول وي، خو په عمل کې پرې عمل ونه کړو.[13]

[13]-٢)الدرر السنية(٢/٣٢٣)

دويم: د مسلمانانو له جماعت سره يوځای پاتې کېدل :

-له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «تَفْتَرِقُ أُمَّتِي عَلَى ثَلَاثٍ وَسَبْعِينَ مِلَّةً، كُلُّهُمْ فِي النَّارِ، إِلَّا مِلَّةً وَاحِدَةً».

-صحابه وو وويل: اې د الله رسوله! هغه يوه ډله کومه ده؟

رسول الله ﷺ وفرمايل: «مَا أَنَا عَلَيْهِ وَأَصْحَابِي». [14]

ژباړه: «هغه لاره چې زه او زما اصحاب پرې روان يو.»

يعنې: هغه عقيده، لارښوونه او عمل چې رسول الله ﷺ او د هغه اصحاب پرې وو؛ نه هغه څه چې له هغوی وروسته رامنځته شوي دي.

-نو بايد له بدعتونو او هغو لارو څخه چې د رسول الله ﷺ او د هغه د اصحابو له لارې سره مخالفې دي، په کلکه ځان وساتل شي، د نجات لاره غوره شي، په نېغه لار او سمې سنتي طريقې ټينګې منګولې ولګول شي. همدا هغه لار ده چې نېک صالح سلف پرې روان وو، او همدا هغه لاره ده چې په هغې کې ريښتيني او ګټوره سوداګري ده.

-هغه مؤمن چې له خپل ځان سره خيرخواهي لري، بايد د الله د رښتيني او صادق رسول ﷺ دغې خبرې ته په غور سره فکر وکړي؛ هغه رسول چې په خپلو خبرو کې رښتينی دی، ځکه الله تعالى فرمايي: ﴿وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ ۝ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ﴾ [15]

ژباړه: «او هغه له خپلې خوښې او هوا څخه خبرې نه کوي؛ دا يوازې هغه وحي ده چې ورته نازلېږي.»

-هغه رسول چې د الله تعالى او د خلکو په نزد صادق او رښتينی دی. نو هر څه چې رسول الله ﷺ د امت د اختلاف او وېشل کېدو په اړه خبر ورکړی، هغه به خامخا واقع کېږي. او له دې فتنې څخه د نجات يوازينی لار دا ده چې انسان په هغه عقيده او عمل ټينګ پاتې شي چې رسول الله ﷺ او د هغه اصحاب پرې ثابت وو.

---

[14]-أخرجه الترمذي (٢٦٤١) من حديث عبدالله بن عمرو، وحسنه الألباني رحمه الله في صحيح سنن الترمذي (٢١٢٩)

[15]- النجم: ٣-٤

-لکه څنګه چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «قَدْ تَرَكْتُكُمْ عَلَى الْبَيْضَاءِ، لَيْلُهَا كَنَهَارِهَا، لَا يَزِيغُ عَنْهَا بَعْدِي إِلَّا هَالِكٌ». [16]

-ژباړه: «ما تاسو پر داسې روښانه او سپينه لار پرېښي ياست چې شپه يې د ورځې په څېر روښانه ده؛ له ما وروسته به هېڅوک له دې لارې نه اوړي، مګر هغه څوک چې هلاک شوی وي.»

-نو هغوی له سنتو څخه نه اوړي او نه ترې بلې خوا ته ګرځي؛ بلکې هماغه سنت تعقيبوي، په هغه کلکې منګولې لګوي، د هغه پر بنسټ له خلکو سره دوستي او دښمني کوي، د هغه په لار کې درېږي، د هغه دفاع کوي او د هغه لپاره مبارزه کوي.

-نو هغه کسان چې پر هغه څه ولاړ وي چې رسول الله ﷺ او د هغه اصحاب پرې ثابت وو، هماغه «جماعت» دی؛ يعنې هغه کسان چې د رسول الله ﷺ پر شريعت راټول شوي وي. همدوی د الله تعالی هغه حکم عملي کوی چې فرمايي: ﴿أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ﴾ [17]

-ژباړه: «دين قائم کړئ او په هغه کې اختلاف مه کوئ .

-نو هغوی نه دي سره وېشل شوي، بلکې په يوه جماعت او يوه ډله کې پاتې شوي دي؛ که څه هم د نورو په پرتله يې شمېر لږ ، او ددښمنانو، مخالفانو او مقابل لوري يې ډېر هم وي، هېڅ زيان ورته نه رسوي. ځکه په ډېرو زمانو کې داسې کېدای شي چې ډېر خلک د دوی مخالفت وکړي، خو د خلکو ډېرښت د حق معيار نه دی او د مخالفينو شمېر هېڅ اعتبار نه لري.

-له معاويه رضي الله عنه څخه روايت دی چې يوه ورځ ودرېد او ويې ويل: رسول الله ﷺ زموږ په منځ کې ودرېد او ويې فرمايل:

[16] -) أخرجه ابن ماجه (٤٣) من حديث العرباض بن سارية الله ، وصححه الألباني رحمه الله في صحيح سنن ابن ماجه (٤١

[17] - الشورى:١٣ آيت .

«أَلَا إِنَّ مَنْ قَبْلَكُمْ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ افْتَرَقُوا عَلَى ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِينَ مِلَّةً، وَإِنَّ هَذِهِ الْمِلَّةَ سَتَفْتَرِقُ عَلَى ثَلَاثٍ وَسَبْعِينَ: ثِنْتَانِ وَسَبْعُونَ فِي النَّارِ، وَوَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ، وَهِيَ الْجَمَاعَةُ» [18]

-ژباړه: «خبر اوسئ! له تاسو څخه مخکې د اهل کتابو خلک په دوه اویا ډلو ووېشل شول، او دا امت به هم په درې اویا ډلو ووېشل شي؛ دوه اویا ډلې به په اور کې وي او یوه ډله به په جنت کې وي، او هماغه د جماعت ډله ده.»

-په دې حدیث کې رسول الله ﷺ له درې اویا ډلو څخه یوه ډله د «جماعت» په نوم یاده کړې ده. له دې څخه څرګندېږي چې هغه نورې ډلې، که څه هم په شمېر کې ډېرې وي، «جماعت» نه بلل کېږي؛ بلکې هغوی د تفرقې او بېلتون خلک دي.

-الله تعالى د ابراهيم عليه السلام په اړه فرمايلي دي: ﴿إِنَّ إِبْرَاهِيمَ كَانَ أُمَّةً قَانِتًا لِلَّهِ حَنِيفًا﴾ [19]

-ژباړه: «بېشکه ابراهيم يو امت و، د الله فرمانبردار او د حق لور ته مايل و.»

-الله تعالى ابراهيم عليه السلام ته د «امت» نوم ورکړی، حال دا چې هغه په داسې زمانه کې اوسېده چې له هغه پرته بل مسلمان نه و.

-له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «عُرِضَتْ عَلَيَّ الْأُمَمُ، فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ وَمَعَهُ الرَّهْطُ، وَالنَّبِيَّ وَمَعَهُ الرَّجُلُ وَالرَّجُلَانِ، وَالنَّبِيَّ لَيْسَ مَعَهُ أَحَدٌ...» [20]

-ژباړه: «ماته ټول امتونه وړاندې کړل شول. ما يو داسې نبي وليد چې له هغه سره يوه کوچنۍ ډله وه، بل نبي مې وليد چې له هغه سره يو يا دوه کسان وو، او داسې نبي مې هم وليد چې له هغه سره هېڅوک نه وو.»

يعني :د الله له پيغمبرانو څخه به داسې نبي وي چې له لسو څخه کم کسان به يې پيروان وي، داسې نبي به وي چې يوازې يو يا دوه پيروان به ولري، او داسې نبي به هم وي چې هېڅ پيروان

[18] - أخرجه أبو داود (٤٥٩٧)، وحسنه الألباني تحمد الله في صحيح سنن أبي داود» (٣٨٤٣

[19] - النحل: ١

[20] - أخرجه البخاري (٥٧٠٥) ، ومسلم (٢٢٠) واللفظ له

به ونه لري. په دې کې ښکاره دليل دی چې د پيروانو ډېرښت او کموالی د دې لپاره معيار نه دی چې معلوم شي يو دعوتګر پر حق دی که پر باطل.[21]

ابن مسعود رضي الله عنه فرمايلي دي: «الجَمَاعَةُ مَا وَافَقَ الحَقَّ وَإِنْ كُنْتَ وَحْدَكَ».[22]

ژباړه: «جماعت هغه دی چې له حق سره موافق وي، که څه هم ته يوازې يې.»

-ابو شامه رحمه الله وايي: هر ځای چې د جماعت د پابند پاتې کېدو حکم راغلی، موخه ترې د حق پابندي او د هغه پيروي ده؛ که څه هم د حق منونکي کسان لږ وي او مخالفين ډېر. ځکه هغه حق چې لومړني جماعت، يعنې رسول الله ﷺ او د هغه اصحاب، پرې روان وو، هماغه حق دی؛ او له هغوی وروسته د بدعتيانو ډېرښت ته هېڅ اعتبار نشته.[23]

د امام احمد بن حنبل رحمه الله په زمانه کې تقريباً ټول خلک د هغه مخالف شول، پرته له يو څو کسانو. هماغه لږ کسان د حق جماعت وو، او فقيهان، مفتيان، خليفه او د هغه پيروان د مخالفت کوونکو په ډله کې وو؛ په داسې حال کې چې امام احمد رحمه الله يوازې و، خو هماغه يوازې کس د حق پر لوري ولاړ و.

ک-له چې د خلکو عقلونو ته دا خبره د منلو وړ نه وه، هغوی خليفه ته وويل: «اې د مؤمنانو اميره! ته، ستا قاضيان، واليان، ټول فقيهان او مفتيان به پر باطل وي، او يوازې احمد به پر حق وي؟»

-خليفه دا خبره ونه شو زغملی او نه يې علم دې حقيقت ته ورسېد؛ نو امام احمد رحمه الله يې له اوږده زندان وروسته په درو وواهه او سزا يې ورکړه.[24]

-او پوه شئ! که تاسو غواړئ هغه نېغه لار خپله کړئ چې رسول الله ﷺ او د هغه اصحاب پرې په علم او عمل روان وو . يعنې حق وپېژنئ، حق ته لومړيتوب ورکړئ او پر هر څه يې غوره وګڼئ . نو بايد خپل ځانونه د صبر لپاره چمتو کړئ.

---

[21] - السلسلة الصحيحة (١/ ٦)

[22] - أخرجه اللالكائي في شرح أصول اعتقاد أهل السنة (١٦٠)، وصحح إسناده المحدث الألباني رحمه الله في مشكاة المصابيح» (١/ ٦١)

[23] - الباعث على إنكار البدع والحوادث (ص١٩ - ٢

[24] - إعلام الموقعين (٣/ ٤٩٥)، بتصرف يسي

-له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ، الصَّابِرُ فِيهِمْ عَلَى دِينِهِ كَالْقَابِضِ عَلَى الْجَمْرِ». [25]

ژباړه: «پر خلکو به داسې زمانه راشي چې په هغه کې به په پر خپل دین صبر کوونکی د هغه چا په څېر وي چې سره سکروټه په لاس کې نیسي.»

-او له عتبة بن غزوان رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: «إِنَّ مِنْ وَرَائِكُمْ أَيَّامَ الصَّبْرِ، لِلْمُتَمَسِّكِ فِيهِنَّ يَوْمَئِذٍ بِمَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ أَجْرُ خَمْسِينَ مِنْكُمْ».. قالوا: يا نَبِيَّ الله !

أوَ مِنْهُمْ؟ قال : بل مِنْكُمْ ([26]

ژباړه: له تاسو وروسته به داسې د صبر او سختۍ زمانې راشي چې په هغه وخت کې څوک ستاسو د اوسني دین، عقیدې او لارې په ټینګه پابندي وکړي، د هغه اجر به د تاسو له پنځوسو کسانو سره برابر وي.

-صحابه وو وویل: اې د الله رسوله! ایا د هغوی له پنځوسو کسانو څخه؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: نه، بلکې ستاسو له پنځوسو کسانو څخه.

یعنې: له تاسو وروسته به داسې ورځې راشي چې په خلکو کې به په پر دین ټینګ پاتې کېدونکي ډېر لږ وي. دغه لږ کسان به له سختو ستونزو او ستر مشقت سره مخ وي؛ د هغو کسانو په څېر چې سره سکروټه په لاس کې نیسي. دا ځکه چې د دوی مخالفین به ډېر زورور وي، ګمراه کوونکې فتنې به ډېرې وي، تباه کوونکې غوښتنې او خواهشات به زیات وي، ایمان به کمزورى وي او د مرستې او ملاتړ کوونکو د کموالي له امله به انسان ځان ډېر یوازې احساسوي.

-خو هغه څوک چې په خپل دین ټینګ پاتې شي، هغه د الله تعالی په نزد له غوره او نېکو بندګانو څخه دی، د مقام له پلوه یې درجه ډېره لوړه ده او ارزښت او اجر یې ډېر ستر دی.

---

[25] -) أخرجه الترمذي (٢٢٦٠)، وصححه الألباني رحمه الله في صحيح سنن الترمذي» (٥٠٥/٢)

[26] - أخرجه ابن نصر في السنة» (ص٩)، والطبراني في الكبير» (١١٧/١٧ رقم ٢٨٩). وصححه الألباني رحمه الله في «الصحيحة» (٤٩

د هغه اجر به څو برابره شي؛ يعنې د صحابه کرامو د هغو پنځوسو عملونو په اندازه به اجر ولري چې د ده له عمل سره ورته وي.

-خو د صحابه کرامو رضي الله عنهم ځانګړی فضيلت او هغه ستر خدمتونه چې هغوی د اسلام لپاره ترسره کړي، ببله موضوع ده. د فضيلت، د رسول الله ﷺ د ملګرتيا، جهاد او له رسول الله ﷺ سره د هجرت په برخه کې هېڅوک له هغوی سره برابرېدای نه شي. کېدای شي دا وروستنۍ مؤمن په يوه ځانګړنه کې له هغوی څخه غوره اجر ولري، خو صحابه کرام به په ډېرو نورو ځانګړنو کې تر هغه غوره وي.

-له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «إِنَّكُمْ فِي زَمَانٍ، مَنْ تَرَكَ مِنْكُمْ عُشْرَ مَا أُمِرَ بِهِ هَلَكَ، ثُمَّ يَأْتِي زَمَانٌ، مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ بِعُشْرِ مَا أُمِرَ بِهِ نَجَا». [27]

-ژباړه: «تاسو په داسې زمانه کې ياست چې که له تاسو څخه څوک د هغو لسو برخو څخه يوه برخه هم پرېږدي چې ورته امر شوی، هلاک به شي. بيا به داسې زمانه راشي چې که څوک له هغو لسو برخو څخه يوازې په يوه برخه هم عمل وکړي چې ورته امر شوی، نجات به وموميِ.»

-نو الله تعالى دې پر هغه بنده رحم وکړي چې له ببلابېلو ډلو او تفرقو څخه ځان ساتي، له بدعتونو څخه ځان لرې کوي، د دين پيروي کوي او نوې لارې او بدعتونه نه رامنځته کوي؛ د سلفو پر لار او د هغوی پر اثارو ټينګ پاتې کېږي، نېغه لار لټوي او له خپل کريم او مهربان رب څخه مرسته غواړي.

يوه مهمه ګټه :

-پدې حديث کې چې: «ټولې به په اور کې وي»، دا معنا نه لري چې د دغو ټولو ډلو هر فرد به حتمي د دوزخ له تلپاتې اوسېدونکو څخه وي.

-بلکې مطلب دا دی چې هر هغه عمل چې انسان يې د سنتو له لارې څخه په وتلو سره ترسره کوي، د دوزخيانو له اعمالو څخه دی؛ ځکه د دوزخ خلک د جنت د خلکو مخالف دي. نو هر څوک چې د جنت د خلکو له عمل څخه ووځي، د دوزخيانو په عمل کې به داخل شي.

[27] - أخرجه الترمذي (٢٢٦٧)، وصححه الألباني رحمه الله في صحيح سنن الترمذي» (٢/٥٠٨ .

-خو دا لازمه نه ده چې هغه به حتماً د دوزخ له تلپاتې اوسېدونکو څخه وي.

- «په اور کې دي» او «د اور له خلکو څخه دي» ترمنځ توپير شته. «د اور خلک» هغه کسان دي چې د دوزخ اصلي او تلپاتې اوسېدونکي وي. خو کله چې وويل شي «په اور کې دي»، کېدای شي مطلب دا وي چې د دوی د حق له لارې څخه د وتلو په اندازه به سزا ورکول کېږي؛ خو د تل لپاره به په دوزخ کې نه پاتې کېږي.[28]

[28] - الشريعة (٣١٥/١ . شرح العقيدة السفارينية (ص٩١ – ٩٢

دربيم: ايمان :

-الله تعالى فرمايي: ﴿فَنَادَى فِي الظُّلُمَاتِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ ۝ فَاسْتَجَبْنَا لَهُ وَنَجَّيْنَاهُ مِنَ الْغَمِّ وَكَذَلِكَ نُنْجِي الْمُؤْمِنِينَ﴾ [29]

-ژباړه: «نو هغه په تيارو کې غږ وکړ: له تا پرته بل هېڅ معبود نشته، ته پاک يې، بېشکه زه له ظالمانو څخه وم. نو موږ يې دعا قبوله کړه او هغه مو له غم څخه وژغوره، او همداسې موږ مؤمنان ژغورو.»

-دا د هر هغه مؤمن لپاره يو وعده او زېرى دى چې په سختۍ او غم کې واقع شي؛ دا چې الله تعالى به يې له هغه حالت څخه وژغوري، ستونزه به يې لرې کړي او سختي به يې ورسېکه کړي، د هغه د ايمان له امله؛ لکه څنګه چې يې له يونس عليه السلام سره وکړل.

-الله تعالى فرمايي: ﴿وَأَنْجَيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ﴾ [30]

-ژباړه: «او موږ هغه کسان وژغورل چې ايمان يې راوړى و او تقوا يې کوله.

-او سبحانه وتعالى فرمايي: ﴿وَنَجَّيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ﴾ [31]

ژباړه: «او موږ هغه کسان وژغورل چې ايمان يې راوړى و او تقوا يې کوله.»

-په دې آيتونو کې د مؤمنانو ستاينه شوې، د هغوى مقام لوړ بلل شوى او دا څرګندېږي چې د الله تعالى په نزد له عذاب څخه حقيقي نجات يوازې هغه مؤمنان ترلاسه کوي چې تقوا لري.

-ايمان د ټولو فضيلتونو بنسټ او تر ټولو لوړ فضيلت دى. دا د ټولو ښو او ستايل شويو صفتونو تر ټولو بشپړ، ستر او پاک صفت دى. د ايمان په وسيله د انسان حالتونه سمېږي او خپلې هيلې او موخې ترلاسه کوي.

-نو د ايمان حقونه په بشپړه توګه ادا کړئ او هغه اړين کارونه ترسره کړئ چې رحمان الله تعالى تاسو ته امر پرې کړى دى. ځکه ايمان داسې عقايد لري چې بايد په زړه يې ومنئ، او

[29] - الأنبياء: ٨٧-

[30] - النمل: ٥٣

[31] - فصلت: ١٨ / تيسير الكريم الرحمن (ص٧٣٢).

داسې ظاهري او باطني اعمال لري چې بايد ترسره يې کړئ؛ ستاسو ايمان تر هغه بشپړ ښه نه شي، څو چې دغه اعمال عملي نه کړئ.

-څلورم: تقوا :

-الله جل جلاله فرمايي: ﴿وَيُنَجِّي اللَّهُ الَّذِينَ اتَّقَوْا بِمَفَازَتِهِمْ لَا يَمَسُّهُمُ السُّوءُ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾ [32]

-ژباړه: «او الله تعالى به هغه کسان چې تقوا يې کړې ده، د هغوی د بريا او نجات له امله وژغوري؛ نه به کومه بدۍ ورته ورسېږي او نه به هغوی غمجن کېږي.

-يعنې : الله تعالى به هغوی د نجات له لارې وژغوري؛ ځکه هغوی د نجات وسيله له ځان سره لري، او هغه د الله تعالى تقوا ده. تقوا د هرې وېرې، سختۍ او سترې ستونزې پر مهال د انسان تر ټولو غوره توښه ده. [33]

-تقوا يوه داسې جامع کلمه ده چې د شريعت له خورا جامع اصطلاحاتو څخه ده. معنا يې دا ده چې انسان د الله تعالى له عذاب څخه ځان ته د ساتنې وسيله برابره کړي.

-او انسان يوازې هغه وخت له عذاب څخه ځان ساتلى شي چې د الله تعالى امرونه ترسره کړي او له منع شوو کارونو څخه ځان وساتي. خو د امرونو د ترسره کولو او له منع شوو کارونو څخه د ځان ساتلو لپاره بايد لومړى د الله تعالى امرونه او نواهي وپېژني.

-نو علم هم اړين دى او عمل هم. کله چې په انسان کې علم او عمل دواړه سره يوځای شي، نو د الله تعالى وېره او خشيت پيدا کوي او په پايله کې تقوا ترلاسه کوي. [34]

الله تعالى فرمايي: ﴿وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ عَلَى رَبِّكَ حَتْمًا مَقْضِيًّا ۝ ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوْا وَنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا﴾ [35]

ژباړه: «او په تاسو کې هېڅوک داسې نشته چې پر هغې (دوزخ) به نه راځي؛ دا ستا د رب له لوري يوه حتمي پرېکړه ده. بيا به مورِ هغه کسان وژغورو چې تقوا يې کړې وي، او ظالمان به په هغې کې په ګوډو وغورځوو .

[32] - الزمر: ٦١

[33] -) تيسير الكريم الرحمن (ص١٠٢

[34] -٣) شرح رياض الصالحين (٣٣١

[35] - مريم: ٧١-

-دا خطاب د ټولو انسانانو لپاره دی؛ که نېک وي او که بد، مؤمن وي او که کافر. مطلب دا دی چې له دوی څخه به هېڅوک داسې نه وي چې د دوزخ له پاسه تېر نه شي. دا د الله تعالی حتمي پرېکړه ده؛ الله تعالی دا کار د خپل ځان لپاره لازم ګرځولی او خپلو بندګانو ته يې د هغه خبر ورکړی دی، نو دا پرېکړه به خامخا عملي کېږي او د هغې له واقع کېدو څخه ټېښته نشته.

-«ورود» يعنې له هغه صراط څخه تېرېدل چې د جهنم پر سر باندې غځېدلی دی. خلک به د خپلو اعمالو له مخې دهغه له پاسه تېرېږي. ځينې به د سترګو د رپ په څېر په ډېرې چټکۍ تېر شي، ځينې به د باد په څېر، ځينې به د تېز رفتار اسونو په څېر او ځينې به د تېز رفتار اوښانو په څېر تېرېږي. ځينې به منډې وهي، ځينې به په عادي ډول روان وي، ځينې به په څلوريزه يا په خاپوړو تېرېږي، او ځينې به راکش کړای شي او په اور کې به وغورځول شي؛ هر يو به د خپلې تقوا او عمل له اندازې سره سم تېرېږي.[36]

وَخُذْ مِنْ تُقى الرَّحْمَنِ أَعْظَمَ جُنّة ليوم بِهِ تَبْدُو عِيَانًا جَهَنَّمُ
وَيُنْصَبُ ذَاكَ الجِسْرُ مِنْ فَوقِ مَتْنِهَا فَهَاوٍ وَمَخْدُوسٌ وَنَاجٍ مُسَلَّمُ[37]

يعني -له الله جل جلاله څخه تقوا د قيامت د هغې ورځې لپاره تر ټولو لوی سپر وګرځوه، هغه ورځ چې جهنم به ښکاره وړاندې کړل شي او هغه پل به د جهنم پر سر وغځول شي.

-نو په دې لار کې به ځينې خلک له پل صراط څخه ولوېږي، ځينې به ټپي او زيانمن شي، او ځينې به په سلامتۍ سره نجات وموميِ.

-نو د نجات لپاره يوه لار غوره کړئ او د خلاصون لپاره يوه دروازه ولټوئ؛ ځکه زمونږ د نجات لپاره به زمونږ هغه هڅې کار راکړي چې مونږ په دنيا کې ترسره کړې وي، او زمونږ د برخليک ټاکونکی به هغه اعمال وي چې مونږ ترسره کړي وي. له الله تعالی څخه مرسته غواړو، پر هغه توکل کوو، او له لوی الله جل جلاله پرته هېڅ ځواک او توان نشته.[38]

[36] - تيسير الكريم الرحمن (٣/٢١٥)
[37] - شرح الطحاوية (٢/١/ ٢٩٥ – ٢٩
[38] - تهذيب مدارج السالكين (ص٢٨٠

-پنځم: استغفار :

الله تعالى فرمايي: ﴿وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ﴾ [39]

ژباړه: «او الله جل جلاله به هېڅکله هغوی ته عذاب نه ورکوي، تر هغه چې هغوی استغفار کوي.»

-څومره اسانه ده چې انسان د الله تعالى په توفيق له دنيوي او اخروي عذاب څخه د ژغورنې دا وسيله ترلاسه کړي! د اسلامي امت هر فرد او هره ډله بايد دا د عذاب څخه د امن وسيله په ياد وساتي، ډېر استغفار وکړي او د هغه غوښتنې مطابق عمل وکړي.

-استغفار له الله تعالى څخه د بښنې غوښتلو معنا لري. بښنه دا ده چې الله تعالى ګناه له منځه يوسي، د هغې اثر ختم کړي او انسان د هغې له شر څخه وساتي.

-همدا حقيقي استغفار دی چې د عذاب مخه نيسي؛ ځکه الله تعالى هغه څوک نه عذابوي چې په رښتيني توګه استغفار کوي.

-خو هغه څوک چې پر ګناه ټينګ پاتې کېږي او بيا له الله تعالى څخه د هغې د بښنې غوښتنه کوي، دا بشپړ او حقيقي استغفار نه دی؛ ځکه داسې استغفار د عذاب مخه نه شي نيولای.

-له همدې امله الله تعالى د توبې قبلېدل له استغفار او له ګناه څخه د لاس اخيستلو سره ترلي دي، نه له دې سره چې انسان بيا بيا هماغه ګناه ته ورګرځي.

-الله تعالى فرمايي: ﴿وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَنْ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا اللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَى مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ﴾ [40]

-ژباړه: «او هغه کسان چې کله کوم فاحش يا د ګناه کار وکړي، يا پر خپلو ځانونو ظلم وکړي، الله ياد کړي او د خپلو ګناهونو بښنه وغواړي . او له الله پرته بل څوک ګناهونه بښلی شي؟ . او په پوهه سره پر هغه څه ټينګار نه کوي چې ترسره کړي يې دي.»

[39] - الأنفال:

[40] - آل عمران: ١٣٥

-کله چې په دې خبره پوه شو، نو بايد دا هم درک کړو چې که يو بنده ووايي: «أستغفر الله» (له الله څخه بښنه غواړم)، خو زړه يې لا هم له خپلې ګناه څخه نه وي راګرځېدلی، نو د ده دا خبره د دعا په معنا ده؛ لکه چې وايي: «اې الله! له تا غواړم چې ما وبښې.» دا په خپل ذات کې ښه کار دی او د قبول هيله يې شته.

-خو کله چې څوک وايي چې دا د دروغجنو خلکو توبه ده، مطلب يې دا نه دی چې دا هېڅ توبه نه ده؛ لکه څنګه چې ځينې خلک يې داسې ګڼي. البته دا خبره سمه ده چې تر هغه چې انسان پر ګناه ټينګ ولاړ وي او ګناه نه پرېږدي، د هغه توبه حقيقي او بشپړه توبه نه بلل کېږي.

-خو په ژبه استغفار کول، هر ډول چې وي، په اصل کې ښه کار دی؛ که څه هم زړه يې د استغفار له معنا څخه غافل وي. البته په داسې حالت کې يې ګټه ډېره کمه وي او غالباً نه قبلېږي. لکه څنګه چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «پوه شئ چې الله تعالى د هغه زړه دعا نه قبلوي چې غافل وي.» [41]

-زمونږ حالت داسې دی چې بايد هر وخت او هره شېبه، سهار او ماښام استغفار وکړو؛ ځکه مونږ هر وخت ګناه کوو. زمونږ غوږونه ګناه کوي، سترګې مو ګناه کوي، زړونه او د بدن غړي مو ګناه کوي، نو د دې ټولو لپاره درمل استغفار دی.

اې الله! مونږ له تا څخه د خپلو ټولو ګناهونو او ټولو تېروتنو بښنه غواړو او تا ته توبه وباسو؛ تر څو مونږ ته د امن او ژغورنې وسيله راکړې او له عذاب څخه مو وژغورې.

[41] - أخرجه الترمذي (٣٤٧٩) من حديث أبي هريرة ، وحسنه الألباني رحمه الله في «صحيح سنن الترمذي (٤٣٤/٣)

-شپږم: د غوسې کابو کول :

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

«مَنْ كَفَّ غَضَبَهُ، كَفَّ اللهُ عَنْهُ عَذَابَهُ». [42]

ژباړه: «څوک چې خپله غوسه مهار کړي، الله تعالی به ترې خپل عذاب منع کړي.»

-نو څوک چې خپله غوسه کابو کړي، هغه د الله تعالی له عذاب څخه ژغورل کېږي او د الله تعالی ستر اجر او ثواب ترلاسه کوي.

-غوسه ډېرې سترې او خطرناکې پایلې لري. کېدای شي انسان د غوسې پر مهال خپل ځان ته ښکنځل وکړي، خپل دین ته سپکاوی وکړي، خپل رب ته سپکاوی وکړي، خپله ښځه طلاقه کړي، لونبی مات کړي، خپلې جامې وسوځوي او یا ډېر نور داسې کارونه ترسره کړي.

-په حقیقت کې د خلکو له ډلې څخه د ځینو کسانو ډېرې داسې پېښې لیدل کېږي چې کله غوسه شي، داسې کړنې ترسره کوي لکه د یوه لېونې له خوا چې صادرې شوې وي.

-په نړۍ کې څومره داسې فتنې رامنځته شوې دي چې ورځ تر بلې سترې او پراخې شوې دي، شرونه پکې ډېر زیات شوي، د خلکو عزتونه پکې تر پښو لاندې شوي، وینې پکې تویې شوې، خپلوي پکې پرې شوې، او د لوی او عزتمند رب، الله تعالی، غضب او سخت عذاب پې لازم کړی دی. بلکې غوسه په نړۍ کې د ډېرو فتنو له سترو لاملونو څخه ده. له الله تعالی څخه د عافیت غوښتنه کوو.

-له دې سره سره، غوسه په دنیا کې سمدستي هم ډېر زیانونه لري؛ لکه د زړه درد، اندېښنه او د ژوند تریخوالی.

-له همدې امله، حتی عادل قاضي ته هم د غوسې په حالت کې د دوو کسانو ترمنځ په حقه پرېکړه کول حرام شوي دي.

-لکه څنګه چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «لا يَقْضِي القَاضِي بَيْنَ اثْنَيْنِ وَهُوَ غَضْبَانُ» [43]

[42] - أخرجه أبو يعلى (٤٣٣٨) ، وحسنه لغيره الألباني رحمه الله في «الصحيحة» (٢٣٦٠)

[43] - أخرجه البخاري (٧١٥٨)، ومسلم (١٧١٧) من حديث أبي بكرة

-ژباړه: قاضي دې د دوو کسانو ترمنځ په داسې حال کې پريکړه نه کوي چې هغه غوسه وي.

-دا ځکه چې غوسه انسان تر خپل واک لاندې راولي، حال دا چې انسان بايد خپله غوسه تر خپل واک لاندې ولري. نو له الله تعالى څخه د غوسې له شره پناه غواړو.

-رسول الله ﷺ به هغه چا ته چې غوسه به يې کړې وه، داسې لارې چارې ورښودلې چې غوسه يې له منځه يوسي او آرامه يې کړي. همدارنګه به يې هغه کسان ستايل چې د غوسې پر مهال يې خپل ځان کنټرولو. او انسان په لاندې عملونو ترې ساتل کيږي .

١-.له شيطان څخه الله تعالى ته پناه غوښتل :

-له سليمان بن صُرَد رضي الله عنه څخه روايت دى، هغه وايي: زه له رسول الله ﷺ سره ناست وم، دوه کسانو يو بل ته سُکنځل کول. له هغوى څخه د يوه مخ سور شوى و او د غاړې رګونه يې له غوسې پرسېدلي وو. رسول الله ﷺ وفرمايل:

«إِنِّي لَأَعْلَمُ كَلِمَةً لَوْ قَالَهَا ذَهَبَ عَنْهُ مَا يَجِدُ، لَوْ قَالَ: أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ، ذَهَبَ عَنْهُ مَا يَجِدُ» [44] وَمَا ذَاكَ إِلَّا لأَنَّهُ يَمْلِكُ العَبْدَ، وَلا يَمْلِكُهُ العَبْدُ، فَنَعُوذُ بِاللهِ مِنْهُ . [45]

-ژباړه: زه داسې يوه کلمه پېژنم چې که دى هغه ووايي، هغه حالت چې دى يې احساسوي، له منځه به ولاړ شي؛ اودا ووايي: «أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ» (زه له رټل شوي شيطان څخه په الله تعالى پناه غواړم)، نو هغه حالت به يې له منځه ولاړ شي.

-له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «إِذَا غَضِبَ الرَّجُلُ فَقَالَ: أَعُوذُ بِاللهِ، سَكَنَ غَضَبُهُ» [46]

-ژباړه: کله چې يو سړى غوسه شي او ووايي: «أَعُوذُ بِاللهِ» (زه الله تعالى ته پناه وړم)، غوسه يې آرامېږي.

[44] - أخرجه البخاري (٧١٥٨)، ومسلم (١٧١٧) من حديث أبي بكرة

[45] - الأمر بالعزلة في آخر الزمان (ص ١٤٢) ، للعلامة محمد بن إبراهيم الوزير رحمه الله

[46] -) أخرجه السهمي في تاريخ جرجان» (ص٢٩٢)، وابن عدي في «الكامل» (٤٥١/٦). وصححه الألباني رحمه الله في الصحيحة» (١٣٧٦

۲-.چوپ پاتې کېدل :

-له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «وَإِذَا غَضِبْتَ فَاسْكُتْ [47]قَالَهَا ثَلاثًا » [48]

ژباړه: کله چې غوسه شې، چوپ پاتې شه. هغه ﷺ دا خبره درې ځله تکرار کړه.

-رسول الله ﷺ د غوسې پر مهال د چوپ پاتې کېدو امر کړی او دا خبره يې د ټينګار لپاره درې ځله تکرار کړې ده.

-دا هم د غوسې لپاره ډېر اغېزمن علاج دی؛ ځکه غوسه ناک انسان د غوسې په حالت کې ډېر داسې خبرې کوي چې وروسته، کله يې چې غوسه ختمه شي، پرې پښېمانه کېږي. ډېر ځله ښکنځل او نورې داسې خبرې ترې صادرېږي چې لوی زيان لري. خو که انسان چوپ پاتې شي، نو دا ټول شر او زيان له هغه څخه لرې کېږي.

-د رسول الله ﷺ دا وينا: «إِذَا غَضِبْتَ فَاسْكُتْ»

-يعنې: کله چې غوسه شې، چوپ پاتې شه.

-دا ښيي چې غوسه ناک انسان مکلف دی چې د خپلې غوسې پر مهال ځان په چوپتيا کنټرول کړي؛ نو له همدې امله د غوسې پر مهال د هغه له خولې وتونکو خبرو په اړه به هم حساب ورسره کېږي.

۳-.رسول الله ﷺ د هغه چا ستاينه کړې چې خپل ځان کنټرولوي او خپله غوسه زغمي :

-له انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ پر داسې خلکو تېر شو چې يو له بل سره يې کشتي کوله. ويې فرمايل:«مَا هَذَا؟»

-هغوی وويل: اې د الله رسوله! دا فلانی ډېر زورور او تکړه دی؛ هر څوک چې ورسره کشتي وکړي، هغه پر ځمکه غورځوي.

---

[47]-)أخرجه أحمد(٢١٣٦ و ٢٥٥٦، ٣٤٤٨)، والبخاري في الأدب المفرد(١٣٢٠)من حديث ابن عباس. وصححه الألباني رحمة الله في صحيح الأدب المفرد»(٩٩١

[48]-الفتح الرباني(١/١٥٢

-رسول الله ﷺ وفرمايل: «أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى مَنْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُ؟ رَجُلٌ ظَلَمَهُ رَجُلٌ فَكَظَمَ غَيْظَهُ، فَغَلَبَهُ وَغَلَبَ شَيْطَانَهُ، وَغَلَبَ شَيْطَانَ صَاحِبِهِ» [49]

-ژباړه: ايا زه تاسو ته د هغه چا په اړه خبر در نه کړم چې له ده څخه ډېر زورور دی؟ هغه سړی چې بل انسان پرې ظلم وکړي، خو دی خپله غوسه کنټرول کړي؛ په دې توګه هغه پر خپل نفس غالب شي، خپل شيطان مات کړي او د خپل مقابل لوري شيطان هم مات کړي.

-له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «مَا مِنْ جُرْعَةٍ أَعْظَمُ أَجْرًا عِنْدَ اللهِ، مِنْ جُرْعَةِ غَيْظٍ كَظَمَهَا عَبْدٌ ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللهِ» [50]

ژباړه: د الله تعالى په نزد له هغې غوسې څخه چې يو بنده يې د الله د رضا لپاره وزغمي، بله داسې تريخ څښاک نشته چې اجر يې تر دې زيات وي.

يعنې : کله چې انسان ډېر غوسه وي، خو يوازې د الله تعالى د رضا لپاره خپله غوسه کنټرول کړي او له بد غبرګون څخه ډډه وکړي، نو الله تعالى ورته ډېر لوی اجر ورکوي.

[49] -) أخرجه البزار (٢٠٥٤) - كشف الأستار)، وحسنه الحافظ في «الفتح» (١٠/٥١٩

[50] -) أخرجه ابن ماجه (٤١٨٩)، وصححه الألباني رحمه الله في صحيح سنن ابن ماجه» ٣٣٧٧.

-اووم: د الله تعالى ذکر :

-له جابر رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «مَا عَمِلَ آدَمِيٌّ عَمَلًا أَنْجَى لَهُ مِنَ العَذَابِ مِنْ ذِكْرِ اللهِ، قِيلَ: وَلَا الجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ؟ قَالَ: وَلَا الجِهَادُ، إِلَّا أَنْ تَضْرِبَ بِسَيْفِكَ حَتَّى يَنْقَطِعَ» [51]

-ژباړه: انسان داسې هېڅ عمل نه دى کړى چې د الله تعالى له ذکر څخه دې هغه د عذاب څخه د ژغورلو لپاره ډېر کټور وي. پوښتنه وشوه: حتى د الله تعالى په لاره کې جهاد هم نه؟

-رسول الله ﷺ وفرمايل:

-«حتى جهاد هم ، نه ، مګر دا چې ته په خپله توره دومره وجنګېږې چې هغه ټوټه ټوټه شي.»

-دا حديث د الله تعالى د ذکر د فضيلت او اهميت له مهمو دلايلو څخه دى، او دا څرګندوي چې ذکر د انسان لپاره له وېرووونکو او خطرناکو حالاتو او د عذاب څخه د نجات له تر ټولو ستړو لاملونو څخه دى. او د آخرت له عذاب څخه د ژغورنې وسيله ده : [52]

ذکر د آخرت له عذاب څخه د ژغورنې له مهمو لارو څخه دى، او همدارنګه د دنيا له عذابونو او وېرونکو پېښو څخه هم د نجات يوه وسيله ده.

-د الله تعالى ذکر په دري ډوله وي: د زړه ذکر، د ژبې ذکر او د بدن د غړو ذکر.

-د زړه ذکر :

-د الله تعالى په زړه سره ذکر دا دى چې د انسان زړه له الله تعالى سره ټرلى وي او د هغه ياد تل په زړه کې ژوندى وساتي. انسان بايد تل د خپل رب عظمت او نښې په ذهن کې ولري، د الله تعالى عام او ځانګړي نعمتونه په ياد راولي، او د الله تعالى په مخلوقاتو او هغو نښو کې چې ويني، د هغه پر عظمت او د هر څه پر احاطه او پوهه استدلال وکړي.

د ژبې ذکر :

---

[51] - أخرجه الطبراني في المعجم الأوسط (٢٢٩٦)، وفي المعجم الصغير (٢٠٩)، وحسنه لغيره الألباني رحمه الله في صحيح الترغيب والترهيب» (١٤٩٧

[52] - سبل السلام (٤/٤١٩)

-د الله تعالى په ژبه ذکر دا دی چې انسان په هره داسې وينا خپله ژبه بوخته کړي چې هغه الله تعالى ته نږدې کوي.

-نو لا إله إلا الله ويل ذکر دی، الله اکبر ويل ذکر دی، الحمد لله او سبحان الله ويل ذکر دی، د قرآن کريم تلاوت ذکر دی، او د شرعي علومو زده کړه او لوستل هم ذکر دی؛ ځکه په دې کې د الله تعالى د احکامو او شريعت يادونه او زده کړه کېږي.

-همدارنګه د الله تعالى د امر د ترسره کولو لپاره د خلکو نصيحت کول ذکر دی، او په نېکۍ امر کول او له بدۍ څخه منع کول هم ذکر دی.

-د بدن د غړو ذکر :

-د بدن د غړو ذکر هر هغه عمل دی چې انسان د الله تعالى جل جلاله لوري ته نږدې کوي.

نو پاکي او اودس ذکر دی، لمونځ ذکر دی، د لمانځه لپاره تګ ذکر دی، زکات ورکول ذکر دی، او هر هغه عمل چې انسان د الله تعالى په لوري نږدې کوي، هغه ذکر دی.

-ځکه الله تعالى ته نږدې کېدل پرته له نيت څخه نه کېږي؛ نو کله چې ته يو نېک عمل کوې او د هغه پر مهال د نيت او د الله تعالى ياد د په زړه کې وي، دا هم د الله تعالى ذکر دی.

-له همدې امله، ټول دين د الله تعالى ذکر دی.[53]

-د الله تعالى د ذکر فضيلت :

-له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «خُذُوا جُنَّتَكُمْ»

مورږ وويل: اې د الله رسوله! آيا کوم دښمن راغلی دی؟

-رسول الله ﷺ وفرمايل: «لا، جُنَّتَكُمْ مِنَ النَّارِ. قُولُوا: سُبْحَانَ اللهِ، وَالحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ؛ فَإِنَّهُنَّ يَأْتِينَ يَوْمَ القِيَامَةِ مُنَجِّيَاتٍ وَمُقَدِّمَاتٍ، وَهُنَّ البَاقِيَاتُ الصَّالِحَاتُ.»[54]

ژباړه: نه، له اوره ځان وساتئ او د هغه پر وړاندې خپل سپر جوړ کړئ. ووايئ: «سُبْحَانَ اللهِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، اللهُ أَكْبَرُ». ځکه دا کلمې به د قيامت په ورځ ستاسو د ژغورنې

[53] -) الضياء اللامع (ص١٥٣

[54] -) أخرجه الحاكم (٥٤١/١) وصححه ووافقه الذهبي

لامل شي، ستاسو لپاره به مخکې استول شوې نېکۍ وي، او همدا هغه تلپاتې نېک عملونه دي.

قال الألبيري :

يَا أَيُّهَا النَّاسُ خُذُوا حِذْرَكُم وَحَصِّنُوا الجُنَّةَ لِلنَّار

فإنها منْ شَرِّ أَعْدَائِكُم ما في العَدا أَعْدَى مِنَ النَّارِ

وَأَكْثِرُوا مِنْ ذِكْرِ مَولاكُمْ فَذِكْرُهُ يُنَجي منَ النَّارِ

-شاعر البيري رحمه الله وايي:

-اې خلکو! خپل ځانونه وساتئ او د اور لپاره خپل سپر او کلا ټينګه کړئ؛ ځکه اور ستاسو له تر ټولو بدو دښمنانو څخه دی، او له اور څخه بل خطرناک دښمن نشته. د خپل مولا ډېر ذکر کوئ، ځکه د هغه ذکر انسان له اور څخه ژغوري.

-نو دا هغه څه دي چې بايد نېک عمل کوونکي يې د ترلاسه کولو لپاره له يو بل سره سيالي وکړي، او عبادت کوونکي بايد د هغې په لور د رسېدو لپاره له يو بل څخه په مخکې کېدو کې هڅه وکړي، او هڅاند خلک بايد د هغې د ترلاسه کولو لپاره ډېر کوښښ وکړي.[55]

-همدا هغه څه دي چې بايد د انسان د ژوند تر ټولو ارزښتمنې شېبې او قيمتي ساهګانې پرې ولګول شي، او هوښيار او پوه خلک بايد تر هر څه مخکې د هغې د ترلاسه کولو لپاره ملا وتړي.

نو له الله تعالى څخه غواړو چې مورږ سره د خپل ذکر، خپل شکر او د ښه عبادت کولو په برخه کې مرسته وکړي.

[55]-تيسيرالكريمالرحمن(١٦٢

اتم: اخلاص :

-د نيت اخلاص او دا چې بنده په رښتينولۍ سره الله تعالى ته پناه يوسي او رجوع ورته وکړي، د دنيا له عذابونو او مصيبتونو څخه د ژغورنې او د سختيو د لرې کېدو له مهمو لاملونو څخه دی.

-دا خبره د هغو دريو کسانو په حديث کې په څرګنده توګه ليدل کېږي چې د شپې د باران له امله يوه غار ته ننوتل او يوې لويې ډبرې د غار خوله بنده کړه.

-هغوی يو بل ته وويل:

-له دې ډبرې څخه تاسو يوازې هغه وخت ژغورل کېدای شئ چې الله تعالى د خپلو نېکو اعمالو په وسيله وبولئ.

نو هر يوه يې خپل يو نېک عمل بيان کړ، او له هغه وروسته به يې ويل:

«اللَّهُمَّ! إِنْ كُنْتُ فَعَلْتُ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ، فَاخْرُجْ عَنَّا مَا نَحْنُ فِيهِ! وَخَرَجُوا يَمْشُونَ (»[56]

يعني: اې الله! که ما دا عمل يوازې ستا د رضا لپاره کړی وي، نو له موږ څخه دا ستونزه او مصيبت لرې کړه چې موږ پکې راګير يو!

-په پايله کې ډبره لږ لږ دغار له خولې څخه لرې شوه، تر دې چې هغوی ترې ووتل او په خپلو پښو روان شول.

نو اخلاص د خلاصون لاره ده.

-کله چې دغو کسانو يوازې الله تعالى ته اخلاص وکړ او په هغه سخت حالت کې يې يوازې هغه ته په عاجزۍ دعا او زارۍ وکړې، الله تعالى له ستونزو او سختيو څخه وژغورل.

-که څه هم د اخلاص اهميت او ارزښت څرګند دی، خو بيا هم د انسان لپاره اخلاص کول او پرې ټينګ پاتې کېدل ډېر سخت دي. د اخلاص ترلاسه کول او تل پرې پاتې کېدل له انسانه ډېرې هڅې او جدي مبارزې غواړي.

---

[56]-أخرجه البخاري(٢٢٧٢)،ومسلم(٢٧

-دا مبارزه يوازې عامو خلکو ته اړتيا نه ده؛ بلکې هر انسان ورته اړتيا لري، حتى عالمان، نېکان او ډېر عبادت کوونکي خلک هم.

-نهم: صدقه :

-د حارث اشعري رضي الله عنه په حديث کې راغلي چې د الله نبي، رسول الله ﷺ وفرمايل:

-«إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ أَمَرَ يَحْيَى بْنَ زَكَرِيَّا بِخَمْسِ كَلِمَاتٍ، أَنْ تَعْمَلَ بِهِنَّ، وَأَنْ يَأْمُرَ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَنْ يَعْمَلُوا بِهِنَّ...»

-بيا يې د دغو پنځو خبرو له جملې څخه يوه دا بيان کړه:

«وَآمُرُكُمْ بِالصَّدَقَةِ، فَإِنَّ مَثَلَ ذَلِكَ كَمَثَلِ رَجُلٍ أَسَرَهُ العَدُوُّ، فَشَدُّوا يَدَيْهِ إِلَى عُنُقِهِ، وَقَدَّمُوهُ لِيَضْرِبُوا عُنُقَهُ، فَقَالَ: هَلْ لَكُمْ أَنْ أَفْتَدِيَ نَفْسِي مِنْكُمْ؟ فَجَعَلَ يَفْتَدِي نَفْسَهُ مِنْهُمْ بِالقَلِيلِ وَالكَثِيرِ، حَتَّى فَكَّ نَفْسَهُ.» [57]

ژباړه:

-او زه تاسو ته د صدقې کولو امر کوم. د صدقې مثال د هغه سړي په څېر دی چې دښمن يې ونيسي، لاسونه يې تر غاړې پورې وترې او د وژلو لپاره يې وړاندې کړي. هغه ورته ووايي: آيا داسې امکان شته چې زه د يو څه مال په بدل کې خپل ځان له تاسو څخه خلاص کړم؟ نو هغه له خپل مال څخه لږ او ډېر ورکوي، تر دې چې په پای کې خپل ځان له هغوی څخه خلاص کړي.

يعنې : صدقه د انسان لپاره د خلاصون يوه وسيله ده؛ لکه څنګه چې يو بنديي د خپل ځان د خلاصولو لپاره فديه ورکوي، همداسې صدقه د انسان د مصيبتونو او عذابونو څخه د نجات سبب ګرځي.

-دا له هغو خبرو څخه ده چې د حقيقت ثبوت يې خپله موجوديت دی او دليل يې هغه څه دي چې په عمل کې واقع کېږي؛ ځکه صدقه د عذاب څخه د انسان په ژغورلو کې ډېر عجيبه او اغېزناک اثر لري.

-له معاويه بن حَيده رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «إِنَّ صَدَقَةَ السِّرِّ تُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ» [58]

[57] -) أخرجه أحمد (٤/ ١٣٠) ، والترمذي (٢٨٦٣)، وصححه الألباني الله في الترغيب والترهيب» (٥

[58]-أخرجه الطبراني(١٩/رقم(١٠١٨))،وحسنه لغيره الألباني نعم الله في«صحيح الترغيب والترهيب»(٨٨٨

-ژباړه: بېشکه پته صدقه د رب تعالی غوسه له منځه وړي

-رسول الله ﷺ صدقه له هغه انسان سره تشبیه کړې چې د وژلو لپاره وړاندې شوی وي، خو هغه د خپل مال په وسیله خپل ځان له هغوی څخه خلاص کړي. په دې مثال کې د صدقې د اغېز د څرګندولو لپاره کافي وضاحت شته؛ ځکه صدقه بنده د الله تعالی له عذاب څخه ژغوري.

-د انسان ګناهونه او تېروتنې د دې غوښتنه کوي چې هغه هلاک شي، خو صدقه راځي، هغه له عذاب څخه ژغوري او له هغه څخه یې خلاصوي.

-له همدې امله رسول الله ﷺ په یوه صحیح حدیث کې، کله چې یې د اختر په ورځ ښځو ته وینا کوله، وفرمایل: «يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ! تَصَدَّقْنَ وَلَوْ مِنْ حُلِيِّكُنَّ، فَإِنَّكُنَّ أَكْثَرُ أَهْلِ جَهَنَّمَ يَوْمَ القِيَامَةِ» [59]

ژباړه: اې د ښځو ډلې! صدقه ورکړئ، که څه هم ستاسو له ګاڼو څخه وي؛ ځکه تاسو به د قیامت په ورځ د دوزخ د ډېرو اوسېدونکو له ډلې څخه یاست.

-لکه چې رسول الله ﷺ هغوی هڅولې او دې ته یې رابللې چې په صدقه ورکولو سره خپل ځانونه له اور څخه وژغوري. نو مور ته هم پکار ده چې صدقه کولو ته ژر اقدام وکړو او له هغې څخه ډېره برخه واخلو.

[59] - أخرجه الترمذي (٦٣٥) من حديث زينب امرأة عبد الله بن مسعود ، وصححه الألباني رحم الله في صحيح سنن الترمذي (١/٣٩٤)

-لسم: رښتينولي :

-له کعب بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي: «إِنَّ اللهَ إِنَّمَا نَجَّانِي بِالصِّدْقِ، وَإِنَّ مِنْ تَوْبَتِي: أَنْ لَا أُحَدِّثَ إِلَّا صِدْقًا مَا بَقِيتُ.» [60]

ژباړه: الله تعالی يوازې زما د رښتينولی له امله زه وژغورلم، او زما د توبې له جملې څخه دا ده چې تر څو ژوندی يم، له رښتيا پرته به هېڅ خبره نه کوم.

-نو الله تعالی چې هر څوک ژغورلی، د رښتينولی له امله يې ژغورلی دی، او څوک چې يې هلاک کړی، د دروغو له امله يې هلاک کړی دی.

الله سبحانه وتعالی خپلو مؤمنو بندګانو ته امر کړی چې له رښتينو خلکو سره واوسي.

-الله تعالی فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ﴾ [61]

ژباړه: اې مؤمنانو! له الله څخه ووېرېږئ او له رښتينو خلکو سره اوسئ.

-له رښتينو خلکو سره په خپلو خبرو، کړنو او حالاتو کې اوسئ؛ هغه کسان چې خبرې يې رښتيا وي، اعمال او حالات يې هم له رښتينولی پرته بل څه نه وي. د هغوی اعمال له سستی او کمزورۍ څخه پاک وي، له نېکو موخو او اخلاص څخه ډک وي. [62]

-نو په دين، علم، روزنه، وعظ او وينا کې رښتيني خلک ولټوئ.

-ډېر، ډېر يې ولټوئ؛ ځکه مور به داسې کسان هم پيدا کړو چې دعوت کوي، ديني مطالب خپروي، کتابونه ليکي، مطالب ترتيبوي، خلکو ته وعظ کوي او ويناوې کوي، خو موخه يې مقام، شهرت، مال يا شخصي ګټه وي. [63]

-مور به داسې کسان هم ووينو چې علم زده کوي او عمل کوي، خو په علم، عمل او دعوت کې يې هېڅ برکت نه وي.

-څومره ډېر خلک داسې دي چې عمل کوي، يوازې د دې لپاره چې خلک ووايي: ده عمل وکړ.

---

[60] - أخرجه البخاري (٤٤١٨) ، ومسلم ((٢٧٦٩) - في حديث طويل

[61]- التوبة: ١

[62]-تيسير الكريم الرحمن(٢٩٥

[63]-كعب بن مالك(ص

-څومره خلک داسې دي چې عمل کوي، تر څو نوم يې خپور شي.

-څومره خلک داسې دي چې عمل کوي، تر څو شهرت او مقام يې لوړ شي.

-او څومره خلک داسې دي چې عمل کوي، تر څو نوم يې په ورځپاڼو او مجلو کې خپور شي.

-دا هغه کسان دي چې د ټولو نړۍ د رب، الله تعالى، لپاره عمل نه کوي؛ که يې نوم او شهرت مطرح وي، عمل کوي، او که شهرت او يادونه يې نه وي، نو عمل پرېږدي.[64]

-د رښتينولې په اړه د رسول الله ﷺ لارښوونه :

-د رسول الله ﷺ دا خبره په ياد ولرئ: «عَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ، فَإِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى البِرِّ، وَإِنَّ البِرَّ يَهْدِي إِلَى الجَنَّةِ، وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَصْدُقُ، وَيَتَحَرَّى الصِّدْقَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ صِدِّيقًا...»[65]

ژباړه: تاسو پر رښتينولې ټينګ اوسئ؛ ځکه رښتينولې نېکۍ ته لارښوونه کوي، او نېکي جنت ته لارښوونه کوي. انسان تل رښتيا وايي او د رښتينولې هڅه کوي، تر دې چې د الله تعالى په نزد د ډېر رښتيني انسان په توګه وليکل شي.

-او د هغه اعرابي په اړه د رسول الله ﷺ دا خبره هم مه هېروئ: «إِنْ تَصْدُقِ اللهَ يَصْدُقْكَ»[66]

ژباړه: که له الله تعالى سره رښتينى اوسې، الله تعالى به درسره رښتينى چلند وکړي.

-کاشکې دا خبرې زموږ په کړنو او ژوند کې عملي شوې واى! کاشکې موږ د دې خبرو په معنا او هدف ښه پوه شوي واى. کاشکې موږ د دې خبرو مقصد او پايله درک کړې واى.[67]

له الله تعالى سره رښتينولي :-

-د امت اصلي ستونزه له الله تعالى سره د رښتينولې کمښت دى. نو راځئ چې په رښتينولې سره د دې ستونزې د حل لپاره هڅه وکړو.

راځئ چې په خپلو عبادتونو او معاملاتو کې رښتيني شو.

64-)سعدبن معاذ(ص

65-أخرجه مسلم(٢٦

66 - جزء من حديث أخرجه النسائي (١٩٥٢)، وصححه الألباني رحمة الله في «صحيح النسائي 1845

67 - سعد بن معاذ (ص٥

راځئ چې په خپل علم، عمل او دعوت کې رښتيني شو.

-بېشکه بريا، نجات او ټول خير په رښتينولۍ کې دي؛ او هلاکت، تاوان او ټول شر په دروغو کې دي.

-له همدې امله، عاقل انسان ته ښايي چې په خپلو خبرو کې تل رښتينولي، په خپلو اعمالو کې اخلاص، او په خپلو ټولو حالاتو کې صفا او پاک نيت خپل کړي. نو څوک چې همداسې وي، هغه به له نېکانو او صالحانو سره يوځای شي او د ډېر ښوونکي الله رضا ته به ورسېږي.

-وَاللَّهِ دَرُّ القَائِلِ:

رښتيا هم د دې ويونکي خبره ډېره ښکلې ده:

سَيُعْطَى الصَّادِقُونَ بِفَضْلِ صِدْقٍ
نَجَاةٌ فِي الحَيَاةِ وَفِي الْمَمَاتِ

ژباړه: رښتيني خلکو ته به د هغوی د رښتينولۍ په فضل او برکت ---په ژوند او مرګ دواړو کې نجات ورکړل شي.

اې الله! پر موږ خپل فضل وکړه او زموږ په خبرو، اعمالو او ټولو حالاتو کې رښتينولي راپه برخه کړه. بېشکه ته ډېر سخي، ډېر کريم، مهربان او رحم کوونکی يې.

-يوولسم: له الله څخه وېره، منځلاريتوب او عدالت :

-له انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ثَلاثٌ مُنْجِيَاتٌ: خَشْيَةُ اللهِ فِي السِّرِّ وَالْعَلانِيَةِ، وَالْعَدْلُ فِي الْغَضَبِ وَالرِّضَا، وَالْقَصْدُ فِي الْفَقْرِ وَالْغِنَى.[68]

ژباړه: درې شيان د انسان د نجات سبب ګرځي:

- په پټه او ښکاره کې له الله څخه وېره؛
- د غوسې او خوښۍ په حالت کې عدالت کول؛
- په بېوزلۍ او شتمنۍ کې منځلاريتوب کول.

-په پټه او ښکاره کې له الله څخه وېره :

-له الله څخه په پټه او ښکاره وېره دا معنا لري چې انسان تل د الله تعالى څارنه او مراقبت په خپل زړه کې احساس کړي، او په دې پوه وي چې د پاڅا او په هر څه پوهېدونکي الله تعالى حضور او نږدېوالى ورسره دی. له همدې امله انسان له خپل رب څخه حيا کوي چې الله پې په داسې ځای کې ووينې چې هغه ترې منع کړی وي، او په داسې کار کې پې ونه مومي چې د الله تعالى رضا ته د نږدې کېدو سبب ګرځي.

-همدا حقيقي خشيت دی؛ ځکه په ښکاره ډول له الله څخه وېره کله ناکله د خلکو د ځان ښودنې او ريا له امله هم وي، او په دې ډول وېره کې د شرک يو څه برخه موجوده کېدای شي؛ ځکه انسان په دې کار سره ځان خلکو ته ښيي.

-خو که يو انسان په داسې ځای کې هم له الله څخه وېرېږي چې هلته له الله پرته بل څوک پرې نه خبرېږي او نه پې ويني، نو همدا انسان په حقيقت کې له الله څخه وېرېدونکی دی.

-دېر داسې کسان شته چې د خلکو په وړاندې له ګناهونو ځان ساتي، خو چې يوازې شي، بيا په ګناهونو کې بېپروا شي. نو داسې انسان په حقيقت کې له خلکو وېرېږي، نه له الله عزوجل څخه.

[68] - أخرجه أبو الشيخ في طبقات المحدثينَ بأصبهان» (١٨٨/٢). واللفظ له.، الحلية (٣٤٣/٢) ، وحسنه الألباني رحمه الله بمجموع طرقه في «الصحيحة» (١٨٠٢

-ځکه څوک چې له الله څخه وېرېږي، لازمه ده چې د الله سبحانه وتعالى تعظيم او درناوى پې په زړه کې يو شان موجود وي؛ که د خلکو په حضور کې وي او که د خلکو له سترګو پټ وي.

همدارنګه انسان بايد له الله څخه په غياب کې هم ووېرېږي؛ يعنې په هغه حالت کې چې د هغه عملونه د سترګو له ليدلو او د غوږونو له اورېدلو څخه پټ وي. دا د زړه خشيت دى.

د زړه خشيت د اندامونو له ظاهري خشيت څخه ډېر مهم دى؛ ځکه هغه څوک چې په زړه کې له الله څخه وېرېږي، هغه د الله عزوجل او د هغه د حقونو ډېر زيات مراقبت کوي.

-نو انسان ته لازمه ده چې د زړه خشيت ته تر هغه ډېر پام وکړي چې د اندامونو ظاهري خشيت ته پې کوي؛ ځکه ظاهري خشيت هر انسان ترسره کولى شي، آن په خپل کور کې هم.

-هر انسان کولاى شي چې ودرېږي او لمونځ وکړي، هېڅ حرکت ونه کړي، د خپلې سجدې ځاى ته وګوري او د لاسونو د پورته کولو په ځاى کې خپل لاسونه پورته کړي؛ يعنې په ظاهري ډول په بشپړه توګه لمونځ سم او برابر ترسره کړي، خو زړه پې غافل وي.

-خو د زړه خشيت اصل دى، او همدا هغه څه دي چې انسان پې بايد وڅاري او په ساتلو کې پې بشپړه هڅه وکړي.[69]

-عدالت په غوسه او خوښى کې :

-په غوسه او خوښى کې عدالت کول ډېر کم موندل کېږي؛ ځکه غوسه انسان دې ته اړ باسي چې ناحقه خبره وکړي او له عدالت څخه واوړي.

-نو څوک چې د غوسې او خوښى په دواړو حالتونو کې پرته له حقه بله خبره نه کوي، دا د هغه د قوي ايمان نښه ده او ښيي چې هغه پر خپل نفس واک لري.

-په ببوزلى او شتمنى کې منځلاريتوب :

[69]-تفسير سورة يس (ص ٣٦-٣٧) للعلامة ابن عثيمين رحمة الله

-په ببوزلې او شتمنۍ کې منځلاريتوب دا دی چې ببوزلي او شتمني دواړه د انسان لپاره ازمېښتونه او امتحانونه دي. الله تعالی خپل بنده په دواړو حالتونو کې ازموي.

په شتمنۍ کې انسان خپل لاس پراخوي، يعنې د لګښت او مصرف توان پيدا کوي؛ او په ببوزلې کې خپل لاس تنګوي، يعنې د مصرف توان يې محدودېږي.

-القصد يعنې منځلاريتوب؛ داسې منځنۍ حالت چې نه پکې اسراف وي او نه بخل او تنګلګښت.

-له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: إِنَّ الهَدْيَ الصَّالِحَ، وَالسَّمْتَ الصَّالِحَ، وَالاقْتِصَادَ جُزْءٌ مِنْ خَمْسَةٍ وَعِشْرِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ». [70]

ژباړه: -ښېشکه نېکه طريقه او ښه چلند، غوره ظاهري سيرت او منځلاريتوب د نبوت له پنځه ويشتو برخو څخه يوه برخه ده.

-نو دا دري واړه صفتونه د الله تعالی د حقونو، د خپل ځان د حقونو او د خلکو د حقونو اړوند ټول خيرونه په ځان کې راټولوي.

-او څوک چې دغه دري واړه صفتونه ولري، هغه د بريا، هدايت او سمې لارې تر ټولو لوړې برخې ته رسېدلی دی.

[70] -) أخرجه أبو داود (٤٧٧٦)، وحسنه الألباني الله في «صحيح الجامع» (١٩٩٣

دولسم: د پنځو وخته لمونځونو ساتنه :

-له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی، له نبي کريم ﷺ څخه روايت دی چې يوه ورځ يې د لمانځه يادونه وکړه او ويې فرمايل:

«مَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا، كَانَتْ لَهُ نُورًا وَبُرْهَانًا، وَنَجَاةً مِنَ النَّارِ يَوْمَ القِيَامَةِ؛ وَمَنْ لَمْ يُحَافِظْ عَلَيْهَا، لَمْ تَكُنْ لَهُ نُورًا، وَلَا نَجَاةً وَلَا بُرْهَانًا، وَكَانَ يَوْمَ القِيَامَةِ مَعَ قَارُونَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَأُبَيِّ بْنِ خَلَفٍ». [71]

ژباړه: -څوک چې د پنځه وخته لمونځونو پابندي وکړي، نو د قيامت په ورځ به لمونځ د هغه لپاره رڼا، دليل او له اور څخه د نجات وسيله وي.

-او څوک چې د لمونځونو ساتنه ونه کړي، نو د قيامت په ورځ به د هغه لپاره نه رڼا وي، نه د حق دليل او نه نجات؛ بلکې هغه به د قارون، فرعون، هامان او اُبي بن خلف سره وي.

لمونځ چې څوک يې وساتي، نو د مؤمنانو لپاره په دنيا کې هم رڼا ده...

-د لمانځه فضيلت :

قُلُوبِهِمْ وَبَصَائِرِهِم، تُشْرِقُ بِهَا قُلُوبُهُم، وَتَسْتَنِيرُ بَصَائِرُهُم؛ وَلِهَذَا كَانَتْ قُرَّةَ عَيْنِ الْمُتَّقِينَ، كَمَا قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: «جُعِلَتْ قُرَّةُ عَيْنِي فِي الصَّلَاةِ». [72]

-ژباړه: -د لمانځه په وسيله د مؤمنانو زړونه روښانه کېږي او بصيرتونه يې رڼا مومي؛ له همدې امله لمونځ د متقيانو د سترګو يخوالی او د زړونو د سکون سبب ګرځېدلی دی. لکه څنګه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: جُعِلَتْ قُرَّةُ عَيْنِي فِي الصَّلَاةِ». [73]

-ژباړه: زما د سترګو يخوالی او د زړه خوښي په لمانځه کې ايښودل شوې ده.

[71] -أخرجه الدارمي (٢٦٢١) - تعليق الدكتور البغا ، وأحمد (٦٥٧٦) بإسناد جيد : كما قال المنذري في الترغيب والترهيب» ٨٣٨

[72] - أخرجه النسائي (٣٩٥٠) من حديث أنس ، وصححه الألباني رحمة الله في صحيح سنن النسائي» (٥٧/

[73] -أخرجه النسائي (٣٩٥٠) من حديث أنس، وصححه الألباني رحمة الله في صحيح سنن النسائي» (٥٧/

-لمونځ د مؤمنانو لپاره د هغوی په قبرونو کې رڼا ده. په آخرت کې د قيامت په ورځ او پر صراط باندې د مؤمنانو لپاره هم رڼا ده؛ ځکه هر انسان ته به د هغه د اعمالو په اندازه رڼا ورکول کېږي.

-لمونځ برهان دی. برهان هغه وړانګې او رڼا ته ويل کېږي چې د لمر د مخ سره نږدې وي. له همدې امله روښانه او پرېکنده دليل ته هم برهان ويل کېږي؛ ځکه د هغه دلالت او څرګندونه پر هغه څه چې پرې دليل نيول شوی، ډېره روښانه وي.

-همدارنګه لمونځ د انسان د ايمان د روغوالي او سمون پر صحت باندې يو څرګند دليل دی.[74]

لمونځ همدارنګه له شر او عذاب څخه د نجات سبب دی، او داسې وسيله ده چې انسان خير او ثواب ته رسوي.

-د لمانځه نه ساتلو پايله :

-خو څوک چې د لمانځه ساتنه نه کوي، نو هغه په ښکاره تاوان اخته شوی دی، او د قيامت په ورځ به له قارون، فرعون، هامان او اُبي بن خلف سره وي.[75]

دا څلور کسان ځکه په ځانګړي ډول ياد شوي دي چې هغوی د کافرانو له مشرانو او سرلارو څخه وو.

-په دې خبره کې يوه ډېره ښکلې او مهمه نکته ده:

-هغه څوک چې د لمانځه د ساتنې په اړه غفلت کوي، کېدای شي د هغه د لمانځه پرېښودلو لامل مال، پاچاهي او واکمني، رياست او منصب، يا تجارت وي.

- څوک چې خپل مال پې له لمانځه څخه غافل کړي، هغه به له قارون سره وي.
- څوک چې خپله پاچاهي او واکمني پې له لمانځه څخه غافل کړي، هغه به له فرعون سره وي.

[74] -۲) جامع العلوم والحكم (۲۳/۲)

[75] -۳) الصلاة وحكم تاركها (ص٦٣ – ٦٤

- څوک چې رياست، منصب او وزارت يې له لمانځه څخه غافل کړي، هغه به له هامان سره وي.
- او څوک چې تجارت او کاروبار يې له لمانځه څخه غافل کړي، هغه به له اُبي بن خلف سره وي.

ديارلسم: د ژبې ساتنه، په کور پاتې کېدل او پر ګناه ژړل :

-له عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دی، وايي: ما وويل: يَا رَسُولَ اللهِ، مَا النَّجَاةُ؟

اې د الله رسوله! نجات څه دی؟

رسول الله ﷺ وفرمايل: أَمْسِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ، وَلْيَسَعْكَ بَيْتُكَ، وَابْكِ عَلَى خَطِيئَتِكَ». [76]

ژباړه: -خپله ژبه له بدو خبرو وساته، په خپل کور کې پاتې شه، او پر خپلو ګناهونو ژاړه.

-د رسول الله ﷺ د دې وينا: أَمْسِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ»

-مطلب دا دی چې خپله ژبه له حرامو خبرو څخه وساته.

-ځکه د ژبې خطر ډېر لوی دی، او د هغې آفتونه ډېر دي. د ژبې ډېر آفتونه داسې هلاکوونکي او تباه کوونکي دي چې انسان پرې تباهی ته ځي.

- خبرې په اسانۍ سره د انسان له خولې وځي، خو په زړه کې يې خوږوالی وي، نفس او شيطان انسان دې ته هڅوي چې خبرې وکړي.

-نو که ته دا توان نه لرې چې له هغو کسانو څخه واوسې چې خبرې کوي او ګټه ترلاسه کوي، نو لږ تر لږه له هغو کسانو څخه واوسه چې چوپ پاتې کېږي او له زيانه ژغورل کېږي.

-ځکه سلامت پاتې کېدل د دوو سترو ګټو له جملې څخه يوه ګټه ده، او له سلامتۍ سره هېڅ شی برابر نه دی.

-له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: مَنْ صَمَتَ نَجَا». [77]

ژباړه: -څوک چې چوپ پاتې شي، نجات مومي.

---

[76]-)أخرجه الترمذي (٢٤٠٦)، وصححه الألباني رحمة الله في صحيح سنن الترمذي »(٢/٥٦٧

[77]-أخرجه الترمذي (٢٥٠١)، وصححه الألباني رحمه الله في صحيح سنن الترمذي »(٦٠٤/

-له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ». [78]

ژباړه: -څوک چې پر الله او د آخرت پر ورځې ايمان لري، بايد ښه خبره وکړي، او يا دې چوپ پاتې شي.

-نو ښه خبره کول له چوپ پاتې کېدو څخه غوره دي، او له بدې خبرې څخه چوپ پاتې کېدل تر بدې خبرې غوره دي.

ښه خبره کول ګټه او غنيمت دی، او له بدې خبرې څخه چوپ پاتې کېدل د انسان لپاره سلامتي ده.

-انسان يا خبرې کوي او يا چوپ پاتې کېږي.که خبرې وکړي، نو يا به خبره ښه وي، چې دا ګټه ده؛ او يا به يې خبره بده وي، چې دا تاوان دی.

-نو انسان په خبرو او چوپتيا کې دوه ډوله حالتونه لري:

- دوه ګټې، چې بايد دواړه ترلاسه کړي.
- او يا دوه تاوانونه، چې بايد له دواړو څخه ځان وساتي.

-له معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: إِنَّكَ لَمْ تَزَلْ سَالِمًا مَا سَكَتَّ، فَإِذَا تَكَلَّمْتَ كُتِبَ لَكَ أَوْ عَلَيْكَ». [79]

-ژباړه: تر هغه وخته چې چوپ يې، تل به سلامت يې؛ خو کله چې خبرې وکړې، نو ستا لپاره به يا اجر وليکل شي يا زيان.

- له عبادة بن الصامت رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: قُولُوا خَيْرًا تَغْنَمُوا، وَاسْكُتُوا عَنْ شَرٍّ تَسْلَمُوا». [80]

78-)أخرجه البخاري(٦٠١٨)،ومسلم(٤٧

79-)أخرجه الطبراني(٢٠/رقم(١٣٧))-ضمن حديث طويل.،وحسنه لغيره العلامة الألباني رحمة الله في صحيح الترغيب والترهيب»(٣/٩٠

80-أخرجه الحاكم(٤/٢٨٦-٢٨٧)-ضمن حديث طويل.،وصححه العلامة الألباني رحمة الله في«الصحيحة»(٤

ژباړه: -سبه خبرې وکړئ چې کټه ترلاسه کړئ، او له بدو خبرو څخه چوپ پاتې شئ چې سلامت پاتې شئ.

-د رسول الله ﷺ دا وينا: وَلْيَسَعْكَ بَيْتُكَ»

-يعنې : کله چې فتنې راڅرګندې شي، په خپل کور کې پاتې شه او له بېځایه راوتلو څخه ډډه وکړه.

نو په کور کې پاتې کېدل انسان له فتنو او د هغوی له شرونو څخه د نجات سبب کېږي.

-له معاذ رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: وَمَنْ جَلَسَ فِي بَيْتِهِ لَمْ يَغْتَبْ إِنْسَانًا، كَانَ ضَامِنًا عَلَى اللهِ». [81]

-ژباړه: -څوک چې په خپل کور کې کښېني او د هېڅ انسان غيبت ونه کړي، هغه د الله تعالى په ذمه او ضمانت کې دی.

-د «ضَامِنٌ عَلَى اللهِ تَعَالَى» معنا دا ده چې الله تعالى د هغه د ساتنې او خير ذمه اخيستې ده.

-پر خپلو تېرو ګناهونو ژړل :

وَقَوْلُهُ: «وَابْكِ عَلَى خَطِيئَتِكَ» أَيْ: وَابْكِ مِنَ الذُّنُوبِ الْمَاضِيَةِ.

ژباړه: -د رسول الله ﷺ د دې وينا «وَابْكِ عَلَى خَطِيئَتِكَ» مطلب دا دی چې پر خپلو تېرو ګناهونو وژاړه او له هغو څخه پښېمانه شه.

-نو بايد پر هغو ګناهونو وژاړو چې په مياشتو او کلونو، ساعتونو او ورځو کې مو ترسره کړي دي؛ پر هغو تېروتنو او جرمونو چې له موږ څخه شوي دي، او پر هغو الهي حقونو چې د ادا کولو په برخه کې مو پکې کوتاهي کړې ده.

[81] - أخرجه ابن حبان (٢٧٣)، وصححه الألباني رحمه الله في صحيح الترغيب والترهيب 27

څوارلسم: له دنيا څخه زهد او بې‌رغبتي :

-له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

«نَجَا أَوَّلُ هَذِهِ الْأُمَّةِ بِالْيَقِينِ وَالزُّهْدِ، وَيَهْلِكُ آخِرُ هَذِهِ الْأُمَّةِ بِالْبُخْلِ وَالْأَمَلِ». [82]

-ژباړه: -د دې امت لومړنيو خلک د يقين او زهد په وسيله نجات موندلی و، او د دې امت وروستي خلک به د بخل او اوږدو هيلو له امله تباه کېږي.

-د ريښتيني زهد درې بنسټونه :

-هغه څه چې زهد سم او پياوړی کوي، درې شيان دي:

-لومړی: د دنيا د لنډمهاله پاتې کېدو په اړه پوهه :

-لومړی دا چې بنده په دې پوه شي چې دنيا له منځه تلونکی سيوری او تېرېدونکی خيال دی.

-له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ ته عمر رضي الله عنه ورغی، په داسې حال کې چې رسول الله ﷺ پر يوه پوزې ناست و او د هغې نښې پې پر اړخ پاتې شوې وې.

-عمر رضي الله عنه وويل: يَا نَبِيَّ اللهِ، لَوِ اتَّخَذْتَ فِرَاشًا أَوْثَرَ مِنْ هَذَا؟

-اې د الله نبي! که له دې څخه دې يو څه نېسه او نرم فرش درلودای، نو څنګه به وه؟

رسول الله ﷺ وفرمايل: مَا لِي وَلِلدُّنْيَا؟! مَا مَثَلِي وَمَثَلُ الدُّنْيَا إِلَّا كَرَاكِبٍ سَارَ فِي يَوْمٍ صَائِفٍ، فَاسْتَظَلَّ تَحْتَ شَجَرَةٍ سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ، ثُمَّ رَاحَ وَتَرَكَهَا». [83]

ژباړه: -زما له دنيا سره څه کار دی؟! زما او د دنيا مثال داسې دی لکه يو مسافر چې د ګرم اوړي په ورځ سفر کوي، بيا د ورځې يوه شېبه د يوې ونې تر سيوري لاندې تم شي، دمه وکړي، وروسته بيا خپل سفر ته ولاړ شي او ونه شاته پرېږدي.

---

[82] - أخرجه ابن أبي الدنيا في قصر الأمل» (٢٠)، وحسنه لغيره الألباني رحم الله في «صحيح الترغيب والترهيب (٣٣٤٠)

[83]-)أخرجهأحمد(٣٠١/١)وابنحبان(٢٥٢٦)،والحاكم(٣٠٩/٤-٣١٠)،وصححهووافقهالذهبي

-نو د دې مثال په شکلا او له واقعيت سره په بشپړ سمون کې ښه فکر وکړه.

-دنيا د خپلې شنې او شکلې بڼې له امله د يوې وڼې په څېر ده، او د هغې د ژر تېرېدو او ورو ورو له منځه تللو حالت د سيوري په څېر دی.

-بنده د خپل رب پر لور روان مسافر دی. کله چې يو مسافر د اوړي په ګرمه ورځ کې يوه ونه ووينې، نو مناسبه نه ده چې د هغې لاندې کور جوړ کړي او هغه خپل دايمي استوګنځای وګرځوي؛ بلکې يوازې د خپلې اړتيا په اندازه دې د هغې تر سيوري لاندې کښېني.

-که له اړتيا څخه زيات پاتې شي، نو له خپلو ملګرو او د سفر له کاروان څخه به وروسته پاتې شي.

-د دنيا مثال د انسان د خوړو په څېر :

-له أُبي بن كعب رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: إِنَّ مَطْعَمَ ابْنِ آدَمَ جُعِلَ مَثَلًا لِلدُّنْيَا، وَإِنْ فَزَّحَهُ وَمَلَّحَهُ، فَانْظُرُوا إِلَى مَا يَصِيرُ». [84]

ژباړه: -د آدم د زوی خواړه د دنيا لپاره د مثال په توګه ټاکل شوي دي؛ که انسان يې هر څومره په ښلابښلو شيانو خوندور او مالګين هم کړي، بيا د وګوري چې په پای کې څه ترې جوړېږي.

-د «قَزَّحَهُ وَمَلَّحَهُ» معنا :

«-قَزَّحَهُ وَمَلَّحَهُ» يعنې خواړه يې په ښلابښلو مصالحو او مالګې خوندور کړل.

قِرح هغه مصالحې ته ويل کېږي چې په ديګ کې اچول کېږي، لکه زيره، دنيا او نور ورته شيانوته

ويل کېږي:

«قَزَحْتُ الْقِدْرَ»

[84]-صحيح أخرجه عبدالله بن أحمد في زوائد المسند (٥/١٣٦)، وصححه لغيره الألباني رحمة الله في الترغيب والترهيب» (٢١٥٠).

-يعنې : ما په ديګ کې مصالحې واچولې.

-د حديث معنا دا ده چې که انسان د خپل خوراک په جوړولو او خوندورکولو کې هر څومره هڅه وکړي او هغه په ډېرې پاملرنې او ذوق تيار کړي، په پای کې بيا هم داسې حالت ته رسېږي چې انسان يې بد ګڼي او ترې کرکه کوي.

-د دنيا حالت هم همداسې دی. که انسان د هغې د آبادولو او د هغې د چارو د سمبالولو لپاره هر څومره هڅه وکړي، په پای کې يې انجام وراني او له منځه تلل دي.[85]

-دنيا ډېره لږه ده :

-له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: إِنَّ اللهَ تَعَالَى جَعَلَ الدُّنْيَا كُلَّهَا قَلِيلًا، وَمَا بَقِيَ مِنْهَا إِلَّا الْقَلِيلُ مِنَ الْقَلِيلِ، وَمَثَلُ مَا بَقِيَ مِنَ الدُّنْيَا كَالنَّغَبِ. يَعْنِي الْغَدِيرَ. شُرِبَ صَفْوُهُ، وَبَقِيَ كَدَرُهُ».[86]

-ژباړه:

-بېشکه الله تعالی ټوله دنيا ډېره لږه ګرځولې ده، او له هغې څخه چې څه پاتې دي، هغه هم د لږې برخې ډېره لږه برخه ده. او د دنيا د پاتې شوې برخې مثال داسې دی لکه يو کوچنی ډنډ؛ د هغه پاکې او صافې اوبه څښل شوې وي او يوازې خړې او ناپاکې اوبه ترې پاتې وي.

-د الله په نزد د دنيا ارزښت :

-له سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَعْدِلُ عِنْدَ اللهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ، مَا سَقَى كَافِرًا مِنْهَا شَرْبَةَ مَاءٍ».[87]

-ژباړه:-که د دنيا ارزښت د الله تعالی په نزد د مچ ديوه وزر هومره هم وای، نو الله تعالی به له دې دنيا څخه يوه کافر ته هم د اوبو يو څاڅکی نه وای ورکړی.

-دنيا ملعونه ده :

---

[85]-النهاية في غريب الحديث(٥٨)

[86]-أخرجه الحاكم(٤/(٣٢٠)،وحسنه الألباني رحمه الله في الصحيحة»(١٦٢٥

[87]-)أخرجه الترمذي،(٢٣٢٠)،وصححه الألباني الله في صحيح سنن الترمذي(٢/٥٣٢

-له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، وايي: ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل چې ويې فرمايل: الدُّنْيَا مَلْعُونَةٌ، مَلْعُونٌ مَا فِيهَا، إِلَّا ذِكْرَ اللهِ وَمَا وَالَاهُ، وَعَالِمٌ أَوْ مُتَعَلِّمٌ». [88]

-ژباړه:

-دنيا ملعونه ده، او هر هغه څه چې په دنيا کې دي هم ملعون دي، پرته د الله تعالى له ذکر او هغو شيانو څخه چې د هغه تابع او د هغه له رضا سره تړاو لري، او همدارنګه عالم او زده‌کوونکی.

-د الله تعالى له ذکر څخه مراد د هغه د اطاعت ټول ډولونه دي. نو څوک چې د الله تعالى اطاعت کوي، هغه د الله ذکر کوونکی ګڼل کېږي، که څه هم په ژبه يې ذکر نه وي.

-او هر څوک چې د الله دوست او د هغه د رضا غوښتونکی وي، هغه له الله سره مينه لري او الله تعالى يې ځان ته نږدې کوي.

-نو د الله تعالى لعنت پر دغو شيانو نه دی؛ بلکې هر هغه څه چې د الله له اطاعت او رضا سره تړاو ونه لري، د دې وعيد لاندې راځي. [89]

-د دنيا د بې‌ارزښتۍ يو بل مثال :

-له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ له يوې لورې سيمې څخه بازار ته راغی، په داسې حال کې چې خلک يې دواړو خواوو ته روان وو.

رسول الله ﷺ د يوه مړه، واړه او د کوچنيو غوږونو لرونکي وزغلي (سرلی) ترڅنګ تېر شو. هغه يې راواخيست، غوږ يې ونيو او ويې فرمايل: أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنَّ هَذَا لَهُ بِدِرْهَمٍ؟»

-ژباړه: ستاسې په منځ کې څوک غواړي چې دا په يوه درهم د ده شي؟

هغوی وويل:

موږ نه غواړو چې دا په هېڅ شي زموږ وي. موږ به له دې سره څه وکړو؟

رسول الله ﷺ وفرمايل: أَتُحِبُّونَ أَنَّهُ لَكُمْ؟»

---

[88] - أخرجه الترمذي (٢٣٢٢)، وحسنه الألباني رحمه الله في صحيح سنن الترمذي» (٥٣٣/

[89] -) إغاثة اللهفان (٤٠

-ژباړه: -ایا تاسې خوښوئ چې دا ستاسې وي؟ هغوی وویل: قسم په الله! که دا ژوندی هم وای، بیا به هم په کې عیب و؛ ځکه غوږونه یې ډبر واړه دي، نو اوس چې مړ هم دی، څنګه به مو خوښ شي؟

د «أَسَكُّ» معنا:

یعني : هغه څوک یا حیوان چې غوږونه یې واړه وي.

-د دنیا د بې‌ارزښتۍ دوام :

-رسول الله ﷺ وفرمایل: فَوَاللَّهِ لَلدُّنْيَا أَهْوَنُ عَلَى اللهِ مِنْ هَذَا عَلَيْكُمْ». [90]

ژباړه: قسم په الله! د الله تعالی په نزد دنیا تر دې مړه او بې‌ارزښته وزغلي هم ډېره سپکه او بې‌ارزښته ده.

-دوهم: دا پوهه چې له دنیا وروسته تر دې غوره او تلپاتې ژوند شته :

-دوهم هغه څه چې د زهد حقیقت پیاوړی کوي، دا دي چې انسان پوه شي چې له دې دنیا وروسته داسې یو کور شته چې د دنیا په پرتله یې ارزښت ډېر زیات او مقام یې ډېر لوړ دی، او هغه د تلپاتې ژوند کور، یعنې آخرت دی.

-د دنیا او آخرت نسبت داسې دی، لکه نبي کریم ﷺ چې فرمایلي دي: وَاللهِ مَا الدُّنْيَا فِي الآخِرَةِ، إِلَّا مِثْلُ مَا يَجْعَلُ أَحَدُكُمْ أُصْبُعَهُ فِي الْيَمِّ، فَلْيَنْظُرْ بِمَاذَا يَرْجِعُ؟!» [91]

ژباړه: -قسم په الله! د آخرت په پرتله د دنیا مثال داسې دی لکه چې له تاسو څخه یو کس خپله ګوته په سمندر کې دننه کړي، بیا دې وګوري چې له خپلې ګوتې سره څومره اوبه راوباسي.

-د حدیث معنا :

[90] - أخرجه مسلم (٢٩٥٧)

[91] -) أخرجه مسلم (٢٨٥)

- د دې حديث مطلب دا دی چې د آخرت په پرتله د دنيا ژوند ډېر لنډ او نعمتونه يې ډېر ژر له منځه ځي؛ خو د آخرت ژوند تلپاتې دی او نعمتونه يې هم دايمي دي. د دنيا او آخرت نسبت داسې دی لکه هغه لږې اوبه چې د انسان په ګوتې پورې نښتې وي، د ټول سمندر په پرتله.

يعنې : هغه لږې اوبه چې د انسان په ګوتې پورې پاتې کېږي، د ټول سمندر په مقابل کې هېڅ ارزښت نه لري؛ همداسې د آخرت په مقابل کې د دنيا ژوند او نعمتونه ډېر لږ او لنډمهاله دي.[92]

-درېيم: په دې پوهېدل چې زهد د انسان برخه نه کموي :

-درېيم شی دا دی چې انسان پوه شي: که دی له دنيا څخه زهد وکړي او د هغې په لټه کې ډېر حرص ونه کړي، هغه څه چې الله تعالی ورته له دنيا څخه ليکلي وي، هېڅکله به ترې پاتې نه شي.

او که انسان د دنيا په ترلاسه کولو کې ډېر حرص او هڅه وکړي، هغه څه به ورته پيدا نه کړي چې الله تعالی ورته نه وي مقرر کړي.

-نو کله چې انسان په دې حقيقت باندې بشپړ يقين پيدا کړي او دا خبره ورته د يقيني علم په توګه ثابته شي، نو له دنيا څخه زهد کول به ورته ډېر اسانه شي.

-دا درې واړه خبرې د بنده لپاره له دنيا څخه زهد کول اسانه کوي، هغه په خپل زهد کې ثابت قدمه کوي، او د زهد په مقام کې يې ټينګوي.

او الله تعالی چې چا ته وغواړي، د نېکۍ او بريا توفيق ورکوي.

---

[92] - شرح مسلم (١٧/ ١٩٢ - ١٩٣)، للنووي رحمه الله

-د زاهد درې نښې :[93]

د زاهد انسان درې نښې دي:

-لومړۍ نښه:

په ترلاسه شوي شي ډېر نه خوشحالېدل او له لاسه تللي شي ډېر نه خپه کېدل دي .

-زاهد هغه څوک دی چې په لاس کې موجودو شیانو دومره نه خوشحالېږي چې زړه يې پرې وترل شي، او د له لاسه تللو شیانو له امله دومره نه خپه کېږي چې زړه يې مات او بېقراره شي.

الله تعالى فرمايي: ﴿لِكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا بِمَا آتَاكُمْ﴾ [94]

ژباړه: -ترڅو پر هغه څه چې له تاسو څخه له لاسه تللي، ډېر خپه نه شئ، او پر هغه څه چې الله تاسو ته درکړي، ډېر خوشحاله او مغرور نه شئ.

-دوهمه نښه:

د بد ويونکي او ستايونکي خبرې ورته يو شان وي :

-دوهمه نښه دا ده چې د زاهد په نزد هغه څوک چې د ده بد وايي او هغه څوک چې د ده ستاينه کوي، دواړه ورته يو شان وي.

-يعنې : د خلکو ستاينه يې زړه نه مغروروي او د خلکو بد ويل يې زړه نه ماتوي؛ ځکه د هغه اصلي هدف د خلکو رضا نه، بلکې د الله تعالى رضا وي.

-درېيمه نښه: له الله تعالى سره يې زړه ترلې وي :

-درېيمه نښه دا ده چې د زاهد انسان اصلي ملګرتيا او زړه تړاو له الله تعالى سره وي، او د هغه پر زړه تر ټولو غالبه خوښه خبره د الله تعالى اطاعت او عبادت وي.

-ځکه زړه هېڅکله د مينې له خوښوالي خالي نه وي؛ يا به د دنيا مينه پکې وي او يا به د الله تعالى مينه.

---

[93] - طريق الهجرتين (ص٢

[94]-الحديد: ٢

-د دنيا او د الله تعالى مينه په زړه کې داسې دي لکه اوبه او هوا په يوه جام کې؛ کله چې اوبه جام ته داخلې شي، هوا ترې وځي، او دواړه په يوه وخت په يوه ځای کې نه شي پاتې کېدای.

نو هر څوک چې له الله تعالى سره مينه پيدا کړي او له هغه سره زړه وتړي، هغه به په الله تعالى مشغول وي او د نورو شيانو په لټه کې به دومره نه بوختېږي.[95]

[95]-عدة الصابرين(ص ٣١)

-پنځلسم: روژه :

-له عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه څخه روايت دی، وايي: ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل چې ويې فرمايل: الصَّوْمُ جُنَّةٌ مِنْ عَذَابِ اللهِ، كَجُنَّةِ أَحَدِكُمْ مِنَ الْقِتَالِ». [96]

ژباړه:-روژه د الله تعالی له عذابه د ساتنې ډال دی، لکه څنګه چې د جګړې ډال انسان له ګوزارونو څخه ساتي.

- الجُنَّةُ : هغه شی ته ويل کېږي چې بنده پرې ځان ساتي؛ لکه ډال چې انسان يې د جګړې پر مهال د دښمن له ګوزارونو څخه د ځان د ساتنې لپاره کاروي.

-همدارنګه روژه خپل خاوند په دنيا کې له ګناهونو څخه ساتي، او په آخرت کې يې له دوزخ څخه ژغوري.

[96]-أخرجه أحمد (٤/٢١٧)، وصححه الألباني رحمه الله في صحيح الجامع» (٣٨٧٩)

دليکوال خاتمه

-الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي هَدَانَا لِهَذَا، وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلَا أَنْ هَدَانَا اللهُ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى خَاتَمِ الْأَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِينَ.

يعني : ټوله ستاينه د هغه الله لپاره ده چې مورږ پې دغه لارې ته هدايت کړلو. که الله مورږ ته هدايت نه واى کړى، مورږ به هېڅکله د هدايت لار نه واى موندلې. او درود او سلام دې وي د ټولو پيغمبرانو او رسولانو پر خاتم، حضرت محمد ﷺ باندې.

-د دنيا او آخرت د نجات ورکوونکو صفتونو او خويونو د بيان په پاى کې بايد ووايو چې مسلمان انسان د نجات لپاره هېڅ بله لار نه لري، پرته له دې چې د الله تعالى په عفو، رحمت او مغفرت کې شامل شي.

-لکه هغه څوک چې د خپل رب تر ټولو زيات اطاعت کوونکى، په عمل کې تر ټولو غوره او د الله تعالى تر ټولو زيات تعظيم کوونکى و،

-- رسول الله ﷺ، فرمايلي دي: لَنْ يُنْجِيَ أَحَدًا مِنْكُمْ عَمَلُهُ».

صحابه کرامو وويل: وَلَا أَنْتَ يَا رَسُولَ اللهِ؟»

اې د الله رسوله! ايا ستا عمل به هم تا نه ژغوري؟

رسول الله ﷺ وفرمايل: وَلَا أَنَا، إِلَّا أَنْ يَتَغَمَّدَنِيَ اللهُ بِرَحْمَةٍ». [97]

- **يعنى :** ستاسې هېڅوک به يوازې د خپلو اعمالو په وسيله له عذابه ونه ژغورل شي.

صحابه وو ويل: اې د الله رسوله! ته هم نه؟

ويې فرمايل: زه هم نه، مګر دا چې الله تعالى ما په خپل رحمت کې راونغاړي.

-هغه څوک په رښتيا په دې حقيقت پوهېږي چې الله تعالى پې ښه پېژندلى وي، د الله تعالى حقونه پې درک کړي وي، د بندګۍ مسؤليت پې پېژندلى وي، او خپل ځان، خپل صفتونه او خپل اعمال پې هم سم درک کړي وي.

---

[97]-أخرجه البخاري(٦٤٦٣)،ومسلم(٢٨١)

او دا يې هم درک کړې وي چې د خپل رب په وړاندې د انسان عبادت او بندګي، که له ښکاره او پټو عيبونو او نيمګړتياوو څخه هم پاک وي، د الله تعالی د ستر حق په مقابل کې د يوه لوی سمندر په پرتله د يوه څاڅکي په څېر ده.

-يعنې د انسان ټول عبادتونه او نېک اعمال د الله تعالی د سترو حقونو او د هغه د بې‌شمېره نعمتونو په وړاندې ډېر لږ دي.

-له همدې امله، انسان بايد هېڅکله په خپلو اعمالو مغرور نه شي؛ بلکې تل بايد د الله تعالی پر رحمت، فضل او بښنه باور ولري.

-د الله تعالی رحمت تر ټولو ستر نعمت دی.[98]

-له أُبي بن كعب رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: لَوْ أَنَّ اللهَ عَذَّبَ أَهْلَ سَمَاوَاتِهِ وَأَهْلَ أَرْضِهِ، عَذَّبَهُمْ وَهُوَ غَيْرُ ظَالِمٍ لَهُمْ؛ وَلَوْ رَحِمَهُمْ، كَانَتْ رَحْمَتُهُ خَيْرًا لَهُمْ مِنْ أَعْمَالِهِمْ».[99]

ژباړه: -که الله تعالی د خپلو اسمانونو او ځمکې ټول اوسېدونکي عذاب کړي، نو هغوی به عذاب کړي، خو په دې کې به يې پر هغوی هېڅ ظلم نه وي کړی؛ او که پر هغوی رحم وکړي، نو د هغه رحمت به د هغوی له خپلو اعمالو څخه د هغوی لپاره ډېر غوره وي.

-يعنې : که الله تعالی انسانان د خپلو اعمالو پر بنسټ محاسبه کړي، د هغه د عدالت له مخې به پر هغوی ظلم نه وي؛ خو که الله تعالی پر هغوی رحم وکړي، نو د هغه رحمت به د هغوی له ټولو اعمالو څخه ډېر غوره او د نجات لپاره به تر ټولو ستر نعمت وي.

-وروستی دعا :

نَسْأَلُ اللهَ تَعَالَى بِأَسْمَائِهِ الْحُسْنَى وَصِفَاتِهِ الْعُلَى أَنْ يَتَغَمَّدَنَا بِرَحْمَتِهِ الَّتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ، إِنَّهُ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ، وَأَكْرَمُ الْأَكْرَمِينَ.

يعني : موږ له الله تعالی څخه، د هغه د ښکلو نومونو او لوړو صفتونو په وسيله، غوښتنه کوو چې موږ په خپل هغه رحمت کې راونغاړي چې هر څه يې په خپل لمن کې راګير کړي دي.

---

[98]-زادالمعاد(٣/٥٩١-٥

[99]-أخرجه أبوداود(٤٦٩٩)،وصححه الألباني رحمه الله في صحيح سنن أبي داود»(3/56

بېشکه هغه تر ټولو زيات رحم کوونکی او تر ټولو زيات کريم او سخي ذات دی. / پای

دژباړونکي پايله

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على رسوله محمد ﷺ، وعلى آله وأصحابه أجمعين.

-د دې موضوع له بيان وروسته څرګندېږي چې د انسان د دنيا او آخرت ژغورنه يوه داسې موخه ده چې د ژوند له هرې برخې سره اړيکه لري. انسان يوازې په دې نړۍ کې د لنډ وخت لپاره ژوند نه کوي، بلکې د مرګ وروسته د داسې ژوند پر لور روان دی چې پای نه لري. له همدې امله بايد د خپل اوسني ژوند هره مرحله د خپل راتلونکي ابدي ژوند لپاره د چمتووالي په توګه وګڼي.

-د ژغورنې لار له صحيح توحيد او ايمان څخه پيلېږي. کله چې د انسان عقيده سمه وي، زړه يې له الله تعالى سره تړلی وي او خپل ژوند د هغه د رضا لپاره تنظيم کړي، نو د نېکو اعمالو لپاره يې لاره هوارېږي. ايمان انسان ته دا احساس ورکوي چې د هغه هره خبره، هر عمل او هر نيت د الله تعالى له علم څخه پټ نه دی. همدا احساس انسان د ګناهونو څخه د ځان ساتلو او د نېکو کارونو د ترسره کولو لوري ته هڅوي.

-تقوا د دې لارې بله مهمه وسيله ده. متقي انسان يوازې د خلکو له وېرې له ګناه څخه ځان نه ساتي، بلکې په زړه کې د الله تعالى عظمت احساسوي او هڅه کوي چې په پټه او ښکاره دواړو کې د هغه له حکمونو څخه سرغړونه ونه کړي. که انسان تقوا خپل ژوند ته ورننباسي ، نو د هغه په عبادت، اخلاقو، معاملاتو او له خلکو سره په چلند کې مثبت بدلون راځي.

-همدارنګه استغفار او توبه د انسان لپاره د بېرته راګرځېدو دروازه ده. انسان له خطا او ګناه څخه خالي نه دی، خو د مؤمن ځانګړنه دا ده چې کله تېروتنه وکړي، په ګناه ټينګار نه کوي، بلکې پښېمانه کېږي، له الله تعالى څخه بښنه غواړي او د خپل عمل د اصلاح هڅه کوي. له همدې امله هېڅ انسان بايد د خپلو تېرو ګناهونو له امله د الله تعالى له رحمت څخه ناامېده نه شي.

-د انسان د اصلاح يوه مهمه برخه د خپل نفس کنټرولول دي. په ځانګړې ډول د غوسې کابو کول د ښه اخلاقو له مهمو نښو څخه دي. ډېرې کورنۍ، ټولنيزې او شخصي ستونزې د يوې بې‌ځايه خبرې يا د غوسې د يوې شېبې له امله پيدا کېږي. که انسان د غوسې پر مهال چوپ پاتې شي، له الله تعالی څخه پناه وغواړي او خپل نفس کنټرول کړي، نو له ډېرو پښېمانيو او ستونزو څخه به خوندي پاتې شي.

-د انسان د ژغورنې مهمې لارې د الله تعالی ذکر، اخلاص، رښتينولي، عدالت، عبادت، د ژبې ساتنه او له دنيا سره متوازن چلند دي. ذکر زړه ته ډاډ او ثبات ورکوي، عبادتونه انسان ته تقوا او صبر ور زده کوي، او ښه اخلاق د انسان شخصيت اصلاح کوي. دنيا بايد د آخرت لپاره د توښې د برابرولو وسيله وګرځول شي، نه د ژوند وروستی هدف. تر ټولو مهمه دا ده چې انسان خپله پوهه په عمل بدله کړي او په خپل ژوند کې مثبت بدلون راولي.

نو هر مسلمان بايد د خپل ژوند محاسبه وکړي، خپل ايمان پياوړی کړي، عبادتونه وساتي، له ګناهونو څخه ځان وژغوري، د الله تعالی ذکر وکړي، له خلکو سره په عدالت او رښتينولی چلند وکړي او د آخرت لپاره توښه برابره کړي.

-الله تعالی دې موږ ته توفيق راکړي چې په دنيا کې د ايمان، تقوا او نېکو اعمالو ژوند ولرو، له ګناهونو څخه توبه وباسو، د هغه د رضا لپاره خپل ژوند برابر کړو او په آخرت کې د هغه له رحمت او بښنې څخه برخمن شو.

وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين.

آمين يا رب العالمين.

محمد بشير مدنی

منابعو فهرست

شمېره	کتاب	مؤلف	محقق	چاپ ځای	چاپ کال
۱	القرآن الكريم	ـــ	ـــ	ـــ	ـــ
۲	إغاثة اللهفان	ابن قيم الجوزية	ـــ	ـــ	ـــ
۳	إعلام الموقعين عن رب العالمين	ابن قيم الجوزية	طه عبدالرؤوف سعد	بيروت	۱۹۷۳م
۴	إعانة المستفيد بشرح كتاب التوحيد	صالح بن فوزان الفوزان	ـــ	بيروت	۱۴۲۳هـ/ ۲۰۰۲م
۵	الأدب المفرد	محمد بن إسماعيل البخاري	ـــ	ـــ	ـــ
۶	الأمر بالعزلة في آخر الزمان	محمد بن إبراهيم الوزير	ـــ	ـــ	ـــ
۷	الباعث على إنكار البدع والحوادث	أبو شامة المقدسي	ـــ	ـــ	ـــ
۸	تاريخ جرجان	السهمي	ـــ	ـــ	ـــ
۹	تهذيب مدارج السالكين	ـــ	ـــ	ـــ	ـــ

شمېره	کتاب	مؤلف	محقق	چاپ ځای	چاپ کال
۱۰	تيسير الكريم الرحمن	عبدالرحمن بن ناصر السعدي	عبدالرحمن بن معلا اللويحق	بيروت	۱۴۲۰هـ/ ۲۰۰۰م
۱۱	جامع العلوم والحكم	ابن رجب الحنبلي	ماهر ياسين الفحل	دمشق. بيروت	۱۴۲۹هـ/ ۲۰۰۸م
۱۲	الدرر السنية	—	—	—	—
۱۳	زاد المعاد في هدي خير العباد	ابن قيم الجوزية	—	بيروت	۱۴۱۵هـ
۱۴	سبل السلام	محمد بن إسماعيل الصنعاني	—	—	—
۱۵	السلسلة الصحيحة	محمد ناصر الدين الألباني	—	—	—
۱۶	الشريعة	الآجري	—	—	—
۱۷	شرح أصول اعتقاد أهل السنة والجماعة	اللالكائي	—	—	—
۱۸	شرح رياض الصالحين	محمد بن صالح العثيمين	—	—	—
۱۹	شرح العقيدة الطحاوية	ابن أبي العز الحنفي	محمد ناصر الدين الألباني	بيروت	۱۴۰۴هـ

شمېره	کتاب	مؤلف	محقق	چاپ ځای	چاپ کال
۲۰	شرح مسلم	يحيى بن شرف النووي	ـــ	بيروت	۱۳۹۲هـ
۲۱	صحيح الأدب المفرد	محمد ناصر الدين الألباني	محمد ناصر الدين الألباني	ـــ	ـــ
۲۲	صحيح البخاري	محمد بن إسماعيل البخاري	ـــ	ـــ	ـــ
۲۳	صحيح الترغيب والترهيب	محمد ناصر الدين الألباني	محمد ناصر الدين الألباني	ـــ	ـــ
۲۴	صحيح سنن أبي داود	محمد ناصر الدين الألباني	محمد ناصر الدين الألباني	ـــ	ـــ
۲۵	صحيح سنن ابن ماجه	محمد ناصر الدين الألباني	محمد ناصر الدين الألباني	ـــ	ـــ
۲۶	صحيح سنن الترمذي	محمد ناصر الدين الألباني	محمد ناصر الدين الألباني	ـــ	ـــ
۲۷	صحيح مسلم	مسلم بن الحجاج النيسابوري	ـــ	ـــ	ـــ
۲۸	الصلاة وحكم تاركها	ابن قيم الجوزية	ـــ	ـــ	ـــ
۲۹	الضياء اللامع	محمد بن صالح العثيمين	ـــ	ـــ	ـــ

شمېره	کتاب	مؤلف	محقق	چاپ ځای	چاپ کال
۳۰	طريق الهجرتين	ابن قيم الجوزية	—	—	—
۳۱	عدة الصابرين وذخيرة الشاكرين	ابن قيم الجوزية	—	—	—
۳۲	الفتح الرباني	—	—	—	—
۳۳	القول المفيد على كتاب التوحيد	محمد بن صالح العثيمين	—	دمام	۱۴۲۴هـ/ ۲۰۰۳م
۳۴	قصر الأمل	ابن أبي الدنيا	—	—	—
۳۵	الكامل في ضعفاء الرجال	ابن عدي	—	—	—
۳۶	كشف الأستار عن زوائد مسند البزار	الهيثمي	—	—	—
۳۷	الملخص في شرح كتاب التوحيد	صالح بن فوزان الفوزان	—	رياض	۱۴۲۲هـ/ ۲۰۰۱م
۳۸	النهاية في غريب الحديث والأثر	ابن الأثير	—	—	—
۳۹	تفسير سورة يس	محمد بن صالح العثيمين	—	—	—
۴۰	جامع العلوم والحكم	ابن رجب الحنبلي	ماهر ياسين الفحل	دمشق. بيروت	۱۴۲۹هـ/ ۲۰۰۸م